SMITHSONIAN INSTITUTION
WASHINGTON 25, D.C.

7
14
49

3
Copy

زه څه وکړم؟

رنځ می ډېر سخت اومزمن دی، هردم ترې دفنا تصور کیږی او نژدی ده چه دحیات سره وداع وکړم .....

موجودیت نه می غټ خطر پېښ شوی اوپه ځان نه پوهېږم چه ولی داسی شوم ؟

چاڅه را کړه، څه ئې راباندی چف کړه کوډی راباندی وشوی او که نه هسی په کوم جسمانی مرض اخته شوم ؟ ؟ ؟ ....

نه څوك لرم اونه دځانه خبریم، طبیب اوډاکټر نه پیژنم !!! ....

ښه‌نوزه څه وکړم ؟

* * *

هوا څوواری یوښه سکه ناك سپین سپیڅلی، پاك‌ساك سړی راغی، ویل ئی زه ډاکټریم اوستا علاج به خدائی وکړم، زما پری ډېره ښه عقیده راغله اوخو شاله شوم .....

خولکه چه دبل مرض ستنی ئی‌هم را چوخ کړی، ښه‌نه شوم‌حال می‌لابتر شو، زه ئی همداسی پرېښو دم ده راته خندل او را ځنی ولاړ.

اوس نوزه په‌دی یوازی صورت څه وکړم ؟

* * *

زما خپل خپلوان چا دا سی پوه کړی چه دده علاج مکوی‌ء همدغسی ښه دی، دده په‌رغېدو کښی ستاسی دنیاته ضرر پېښیږی .....

غټ غټ مشران لرم، هغوی په پیسو پسی روان دی نه غواړی‌چه زمایه جوړ ښت خپلی گټی پرېږدی .....

فقط یوڅو ځامن لرم چه هغوی زما دپاره سرپه تلی اینبی‌دی، چغی وهی اوزما درغېدو دپاره زما خپلو خپلوانو ته دراتو لېدو دعوت کوی خو ....

روغ جوړ،ښایسته سنبال‌صورت می دوه‌نیمه شواولا پسی نورمی‌هم لاس پښی جدا کیږی او جدا شوی دی رگونه می شلیدلی، پلی‌می‌غوڅی شوی‌اونن سبابه‌ددنیانه ستر گی پټی کړم .

که‌همداسی ..... پاتی‌شوم نوای یارانو اوعزیزانو زمانه‌تمه‌غوڅه اودرنگ ساعت‌له‌می‌په ویر گوتی‌پوری کړیء؟؟ خوله‌می شته‌مگر نورمی‌دلاسه‌څه‌نه کیږی‌نوزه‌څه‌وکړم ؟ (م، شفیق)

(۱۸ کال) د دلواول - ۱۳۲۷ دجنوری(۲۰) ۱۹۴۹ (۲۱ گڼه)

کابل

پنځلس ورځنۍ مصوره مجله

ادبی ، اجتماعی ، تاریخی

د پښتو ټولنې له خوا نشرېږی

لوی مدیر : عبدالرؤف « بینوا » د پښتو ټولنې مشر

مرستیال : صدیق الله « رښتین »

دصحافت مدیر او مهتمم : یارمحمد « نظامی »

پته : پښتو ټولنه ، دابن سینا واټ

تلگرافی پته : کابل ، پښتو ټولنه

اشتراك

په کابل کښې :	۳۶	افغانی
په دننه هېواد کې :	۴۰	«
په دباندې ملکونو کې :	۴	دالره
دښونځیو زده کوونکو ته :	۱۸	افغانی

ددې ګڼې لیکونکی

لیک	لیکونکی	مخ
د کابل دښاروالی چارې	ښاغلی « رښتین »	۱
انوارالحق ګران	« ګران	٤
دشاعر دزړه آواز	« امیرحمزه شنواری	۹
نغمې دسوی زړه به پښتنو ته اوروم	« لعل محمد احمدی	۱۱
او بندیزه شعر	« (هوسا)	۱۱
پښتون	« ګل شاه صافی	۱۲
پښتونه !	« محمد ایوب مهمندی	۱۳
پنځه ډېرش کاله پخوا او اوس	« حبیبی	۱٤
مدام به نه وی ستا ښایست زما سوالونه	« عبدالله بختانی	۱۵
نه می خوښ یی !	« نظامی	۱۷
پښتو ژبه	دتجلی مجلی څخه	۱۸
دپټنی دبانکی پور مشرقی کتابخانه	دښاغلی سیفی ترجمه	۱۸
تقریظ	دصحافت څانګه	۲۷
دیو پوه پښتون لیک	ښاغلی سمندر بدر شوی	۲۸
دناپوهانو سندرې	« عبداللطیف جلالی	۳۰
سیرة النبی (ص)	د « کشککی » برهان الدین ترجمه	۵۷٦ - ۵۹۹
پښتو متلونه	« نوری	٤۹ - ۵٤
عکسونه	(٤) قطعی	

د کابل د ښار والی چاری

صدیق الله رښتین

تقریباً درې میاشتې کیږی چه د کابل د بلدیې نوی خوا خوږی رئیس په کارلاس پورې کړی دی ، په دی لږه موده کښې دښار په عمرانی چارو کښې څر ګندتحول او بدلون راغلی دی . په یوه هفته کښې دننه د کابل دغرونو دپاسه دزوړ تاریخی دیوال په خوا کښې دبرق او برېښنا ډیوې والګولې شوې دپخوانۍ کوتوالۍ په ځای دموټرونو او سرویسونو دپاره یوه لویه اډه جوړه شوه ، ځای په ځای په ګوټ پیرونو اوځلورلارو کښې دپولیسانو دپاره ددریدو ځایونه تیارشول ، دولایت مخې ته یوه توته سړک پوخ شو ، دښار په ټولو سړکونو او کوڅو کښې شګې واچولې شوې ، دپل خشتی چته ورانه اوپل ئې په ډېر ښه شان جوړ شو اوپه څلورو ګوټو نو کښې ئې دڅلورو ستنو دپاسه څلور لوی لوی برقونه په ځلیدو راغلل ، په دغه شان دپل خشتی نه کښته نورې لویې چټې هم له منځه لرې کړې شوې ، کښته وریسی بازار د لاهورۍ دروازې پورې ارت اولوی شو اوپه دې صورت خلک له تاریخی تیارو نه خلاص اوپه زړونو اوستر ګو ئې رڼاشوه په دغو دوکانونو باندې ایله دنمر ورانګې اودخدای نورو لګید اوصافه هوائې ولیده ، دپوهنتون اودحبیبیې مکتب ترمنځ میدان کښې په ډېره بېړه تقریبا څلویښت . پنځوس نوی دوکانونه تیار شول اود پل خشتی تود بازاردغلته جوړشو ، په دې ډول نورهم ډېر واړه غټ کارونه میدان ته راوتل او هر چاته دکار مفهوم معنی او معیار معلوم شو .

نو یقینا سړی ویلای شی چه کوم کار چه په دې درې میاشتو کښې شوی دی هغه دپخوانۍ بلدیې دیو کال بلکه ددوو کالو کاردی اوهغه هم په ډېر لږ کښت اومصرف سره .

پخوا په کابل کښې داخیال وچه دعقرب دمیاشتې نه وروسته ترحمل پورې هیڅ کار کول امکان نه لری اوپه‌دې وجه به دژمی په‌درې څلورو میاشتو کښې ټول تعمیری کارونه بند وو، مگرنوې بلدیې دافکر اوخیال عملاً باطل کړ اودسبز کال په سخته یخنۍ کښې ئې خپل کارونه جاری وساتل د کابل دملی ښار والۍ له موجوده فعالیت او کار څخه څوخبری منځ ته راغلې .

۱ـ اوله داچه دکار صحیح معیار او اندازه معلومه شوه او د کار په مفهوم اومعنی باندی خلك پوه کړی شول یعنی د کار واحدقیاسی ثابت اوڅر گند شو .

۲ ـ دوهمه داچه په سخته یخنۍ اوژمی کښې د کار کولو امکان خلکوته وښودلی شو او دژمی په وجه د کار دبندیدو مفهوم له منځه وویستل شو .

۳ـ دریمه داچه دنورو دایرواومؤسسو دپاره دعبرت اودرس اخیستلو یوه نمونه میدان ته راووته ، چه باید نورې دایرې هم دغه شان شپه ورځ د ملت دو دانۍ . د هیواد د ترقۍ اوسر لوړۍ دپاره کار و کړی رښتیا خبره داده چه که چیری ټولې دایرې په دې اندا زه بلکه د دې په‌نیمه هم څه‌حرکت و کړی ، ځانونه وخوځوی اوپه ښه نیت ، پاکه اراده قوی عزم کار و کړی نوامیددی چه داهیواد اوملك به خدای ډېر ژرودان اوآباد کړی .

هوا ! مونږ باید ستر گی وغړوو ، دبلدیې د کارونو څخه عبرت واخلو ،ددې بې وزلی اوغریب ملت په‌غم کښې لږ شان په‌ځان سخته تېره کړو،یواځې دیوه ښارپه‌ودانۍ کارنه کیږی باید چه‌ټول وطن ودا ن او دښه ژوندون دپاره وړو گرځی زما یقین دی چه پدی خبر و هرڅو ك ښه پو هیږی ،هرسړی دښه اوبد ، کار او بیکارۍ رښتیا اودروغو ، پاك نفسۍ اوشخصی غرضونو فرق کولای شی ، لاکن خبره داده چه دټولونه لوی مگر مشکل شی ایثار ښند نه‌اوله شخصی گټی او آرام نه‌تېرېدل دی.

هرڅوك چه دایثار میدان ته راووت، دخپلو ورونو اودخپلې ټو لنې دهو سایۍ دپاره له‌خپل شخصی آرام نه تېر شو ، دیخنۍ او گرمۍ پر وائې ونه ساتله ، ددوړو او گردونو څخه ونه وېرېد ، پیاده تگ ورته‌بد ښکاره نشو، دشپې یاد ماښام په کار کولوونه‌شر مېدنو هغه هرڅه کولای شی او هر مشکل کار سرته رسولای شی .

په دې ځای کښې اصلی اواساسی خبره داده چه دچا دنیکو نو اوپلرونو هډونه چه‌پدی

پا که خاوره کښې پر اته اوله خاورو سره خاوری شوی وی ' دچاپه وینو چه ددې هېو اد کاڼی او بوټی تازه اوخیرازه وی ' د کوموخلکو نیکونوچه دپښتو نخوا په لارو کو څو کښې خړپوسې کړې وی غرض داچه دچاپه وینو کښې چه ددې خاورې ذرات موجود وی نوهغه ټول به په رښتیا او صداقت و ددې خاوری سره مینه لری ' دا عتلا اولوړ تیا دپاره به ئې دسر او مال ایثار اوقربانی کوی ' د پښتو نخوا او افغانستان خاوره به خپل ناموس ګڼی او دهغې دعزت ' درناوی او ترقی دپاره به په پوره جذبه ' پا که مینه اوقوی اراده کار کوی .

کوم کسان چه په دغه جذبه لګیادی کار کوی او یائې کړی دی هغه هر پښتون ته معلوم اوښکاره دی او درست پښتانه ورته د قدر په سترګه ګوری

مګر په دې جامعه او ټولنه کښې ځینې انسانی میکروبونه هم شته چه دوی دفعالو او کاریګرو اورښتینو خلکو په رګونو کښې ننوځی ' هلته پکښې ځاله جوړوی او ورو وروئې له کار اوفعالیت څخه اچوی . دا کسان دجامعې اوټولنې سټه وکاږی اوددې خاورې دلوړتیامخه رانیسی ' دوی لکه دواینو (کویه) په پټه دځمکې لاندې کار کوی دپښتو او پښتنو دترقی اونه لوئېدو اوودې ته نه پرېږدی اوپه دې صورت ددې دهېواد اودې خاورې سره ښه پوخ خیانت کوی داهغه خلك دی چه ددوی په وینو کښې ددې خاوری ذرات نشته نو ځکه ئې لوړ تیا او سعادت هم نه غواړی . پښتانه دغه راز خلك هم ډیر ښه پیژنی او یو یو ورته ښه معلوم دی ددوی په تخریبی کارونو خبر دی او په پوره غور اوخیال ئې څار نه کوی . نن پښتانه خپل دوست اودښمن ' خواخوږی او بد غوښتونکی پیژندلای شی اووایی :

نن خوتاته زه دنورو غوندې ښکارم که وخت راشی نو معلوم به شی چه څوك یم

معافی غواړم دبلدیې په خبره کښې بل خوالاړم خودا هم دمطلب خبرې وې ! !

انوار الحق گران

«مونږ ته له ډیلی نه ښاغلی انوار الحق گران د ډیلی د راډیو د پښتو څانګې مهتمم خپله پیژندګلی را لېږلې ده، تر اوسه پورې پښتو ټولنه د دې ښاغلی پوه پښتون څخه پوره خبره نه وه ده په ډیلی کښې له ښاغلی بینوا سره چه د څوورځو د پاره هندته تللی دی لیدلی دی او دهغه په غوښتنه ئی دغه څو کرښې لیکلی او مونږ ته را استولی دی. مونږ دده ددې خوږ نثر په لوستلو او د پښتونخوا په آسمان کښې ددې روڼ ستوری په لیدلو ډېر خوشحاله شو. دادی اوس دده خپله لیکنه ولولیء»

ښاغلی بینوا په پښتو او پښتنو پسې داسې راخستی ده، لکه چه یو لیونی شهزاده بهرام د ګل اندامی پسې دوسپنې د څپلو په (الوتکه) سور بینوا صاحب په هندوستان کښې ځما په شان په لیونو هم پېښ شو ماته اوس وائی. چه راته لږ خپل حال ووایه!

ګرانه بینوا! ماته خپل حال هیڅ معلوم نه دی، په دې وجه دهرې فقری او خبری په سر کښې مهربانی وکړه - پخپله «شاید» - ولیکه نفسیاتی طور ځما شاید بدې شی. زه د محکم یقین قائل یم، کونړ خو به دی لیدلی وی، دهغه سره جوخته د ترکانړی پښتنو یوه زمکه ده، چه چه د دیر په ریاست کښې په جندول بللی شی، ځما یونیکه د جندول د خانانو سره د پښتو د زمانی په جنګونو کښې بائیلاټ وکړو او وشړلی شو، ماته چه د کومی ورځی نه ځما پلار د خپلو پاتو لویو لویو دوترونو، کلو، او شته مندی قصه کړی ده نو دهغې ورځې را ایسې اشتراکی شوی یم هغه د پښتنو متل دی چه زه جوار ګریم، نو خدای دی د خلقو ښځی هم جوار ګری کړی دنن زمانی د ځینو ملایانو په اصلی معنی کښې مریدیم، ځما دهغوی دا خبره او عادات ډېر خوښ شوی دی. چه هغوی هره خبره د قرآن او حدیث د منځ نه ثابتوی، که دغلا ضرورت ور ته

پېښ شو نو هم د نرځامن ئی د قرآن نه ثابتولی شی. ماهم په دی وجه قرآن او حدیث و لوستل او د اشترا کیت د مقصد د پاره مې د « الارض الله ، ویسئلونك ماذا ینفقون ، قل العفو نحن معاشر الانبیاء لانرث ولانورث ماترکنا. صدقه » داټول دلیلونه مې په یادو یاد کړی دی ، ولې د پیرانو سره می نه لګی ، ځکه چه ځما د مقصد په لار کښ دوی زبردست خنډان شوی دی . د هغوی په سنت کښ خپل مال خوړل حرام دی ، د بل په دوتر او مال ئی ګذاره وی . که څوك راسره دا امداد وکړی . چه ماته دیو څو داسې پیرا نو نومونه وښا ئی چه د بل مال ئی نه وی خوړلی نو ځما سره به ئی داډېره لویه نیکی وی ، ماته خو په دی هدیره کښ هر یو قبر چهل ګزی ښکاری .

اوس بیا قصې ته را اوړم - پلار مې د غریبیء او ګمنامیء دژوند نه په شړو نتیا کښ ځان د دیر ریاست وزارت ته رسولی وو ځمونږ ټول تبرو د خوشحالۍ او عیش عشرت په ټال زنګل - خو آخر نواب صاحب خفه شو او د ټال دارسۍ ئی و شو کوله او مونږ د ریاست نه باهر په وچه زمکه وایږدو - دراوتو په وخت کښ د خدای شکر دی چه د پلار سره می نهه آنی قریباً دوه قرانه په جیب کښ وو او هغی دوو قرانو مونږ په پر دی ناپیژند ګلو وطن کښ تراوسه ساتلی یو .

خپل وطن ته تلی نه شم او په دی وجه اوس د بین الاقوامی باشندګۍ او د یوې دنیا قائل یم تراوسه به مې داویل - چه زه لکه د یهود یانو ملك او وطن نه لرم - ولې اوس هغوی کم بختانو هم د عربو په میلمه دوستیء ، سخاوت او د مسلمانانو د خوږمنو دوستانو انګریزانو په برکت ځانله په فلسطین کښ کور او ملك پیدا کړو .

بینوا صاحب هسې فرنګیا نو ته په او بو کښی خولې کیږی - وا ئې چه پښتون دوی ټوټې ټوټې کړیدی . او د پښتون زمکه دوی په بل پسی لیکلې ده .

بابا ! ځمونږ د انګریزانو سره ګذاره شوېده ، مونږ ئی د بینوا صاحب نه ښه پیژنو د انګریزانو نه دا ګېله عبث او خامخا یو دوست قوم خفه کول دی - که هغوی د پښتون زمکه اخستی وه نو هیڅ باك نشته ، که مونږ ئی لږه خوشامنده وکړه نو د خدای نوره هم لویه دنیا ده د هغې په ځای به راته د بل چا زمکه وښی - او وټ کټ به سره وزی ، ناامیدی کفر دی - او اوس خو هغوی په سپوږمۍ کښی هم زمکه موندلی ده ماته هغه بله ورځ د مستړ بیون د غوږ سړی

پټه داخبره، کړی ده چه په نمبر ۱۵ داو ننګ سټریټ لندن کښ په دی خبره غور لګیا دی کیږی چه ټول پښتون د خپلې موجوده شاړی زمکی نه پاڅوی او سپوږمۍ ته ئی ولیږی

اګر چهن ګیا ایک نشیمن تو کیا غم چمن اور بهی اشیان اور بهی هین (اقبال رح)

دپښتنو بزرګانو اوملایانو له پس ددی دهرنما نڅه نه پس دعا کول په جمعه پیکارده. چه خدایه فرنګیان په دی پښیما نه نه کړې که خبرې خوند و کړو نو هغه به یوه ځان له دنیاوی، بل هیڅ قوم به را سره نه وی.

چه دتنازع للبقا دپاره را سره مقابله اوجنګ کړی یادسیالۍ کوشش راسره و کړی - حقیقت خودادی چه دادنیا ځمونږ ځای نه دی ځکه چه دلته اوس ټول هوښیار شوی دی اودپښتون په جهالت پسې توقې مسخرې کوی هغوی په الوتکو دخپلو زمکو کړ کرونده کوی اوځمونږ ښائسته وزې غوایه ته په ښه نظرنه ګوری په دې دنیا ئی ځانته جنت جوړ کړی دی چه مونږ ووایو چه په بله دینا کښی به خدای جنت را کړی نودا کافران رایوری خاندی چه هوا بی عمله قوم همیشه دبل په خیرات پسی ګرځی ګوری چه په خپله لاس اوپښی ونه خوځوي.

دخپلو ښائسته اوخورویشان ښځو په منځ کښی دومره غاوره دی چه ځمونږ په زنانه وؤ اومونږ پورې پشاړی کوی. چه دا څه سخا اوناولی دی ټوله ورځ سپیا کی تپې اودلو ګوه په ډک کور کښی بی ګذران دی مونږ ددې دنیا په دې مجلس کښی اوس د ګذارې او عزت قابل پاتی شوی نه یو - ددوی سره ځمونږ ګذاره ګرانه ده ښه به داوی چه مونږ یوه جرګه دمینت په طور انګلستان ته ولیږو او هغوی ته ووایو چه مونږ پاخه سو چه مسلمانان یو نو دخدای په خاطر مونږ ټول پښتانه زر ترزره سپوږمۍ ته ولیږئ - البته اوس داهم اورم. (ستارون سی آګی جهان اور بهی هین (داقبال رحمت الله) چه مریخ هم زمکه لری - او آب وهوائی دیره یخه ده - ځما په خیال دامریخ ښه دی - مونږ هسی هم دوا ورو عادت یوو اوبون میزری به هلته پیتاوی ته په قلاره غړو ولی ګوری ربښتیا خودادی چه زه سائنسدان نه یم ځکه چه پښتون یم - ښه به داوی چه بینوا صاحب ئی دچا سائنس دان نه تپوس و کړی ولی که خدای ځمونږ دامقصد پوره کړو - لکه چه ځمایقین دی چه دابه کیږی نو پښتنو ورو نو یو عرض درته کوم چه دخدای په جات ماپرې نه زدی دځان سره می بوځئ زه به موهلته

پکار شم - دانه چه ګنه زه په ریډیو کښې یوازی خبرې کولی شم - هلته به په نوې دنیا کښې دا شیطانی څیزونه دلوی خدای په لوی فضل نه وی - سمه سوچه مسلمانی به وی - البته خو پاچا خو به مووی کنه؟ زه به دهغه د کټ پښو ته ناست یم او دزړې زمانې دباچا یانو قصی چه دښا پیرو دشهزاد ګانو دمیندو داستانونه به درته کوم او دشاهجهان واجد علیشاه او راجه اندر غوندې نامتو حکمرانانو دفنون لطیفه دسرپرستۍ مبارك مثالونه به درته آوروم - اوچه اوده شی نو په هغه وخت به ورته زه دقومونو ټول تاریخونه پاڼې په پاڼې لولم بېنوا صاحب می ضامن دی چه زه به هېڅ دانا جائېزه فائیده نه اخلم - چه ګڼه باچا او ده وی او زه دی قصه پریږم - دخوشا مندیء ټول لغتونه او لفظونه ځما زده دی اوخدای به هغه ځمانه چری هم نه خفه کوی ددیر دشړو نتیانه پس ما ته اوس ډېره ښه تجربه شوېده بیابه دا سی غلطی نه کوم ځمادې توبه وې بینوا صاحب وائی چه دا منتونه پریږده، زه دې ذمه وا ریم، هلته به مو نږ دمریخ دبی عملو خلقو یوه ټولنه د.... ټولنې په نامه جوړه وواو په هغې کښې به دټو لونه لوی خطاب «شاهجهانی لټ» تاته در کوو خو اوس نور څه خپل حال ووایه چه علم، عقل اوقومی خدمت دی څه دی ؟

ښاغلی بېنوا دومره هو ښیار سړی دی چه په پښتنو کښی وا قعی یو علا مه دی و لی معلومیږی چه ځما غوندې دلیونی پرې اثروشو .

وروره! که دقومی خدمت تلل دباچاخان (خان عبدالغفار خان) خدمتونو په ته لګوې نو ځما هېڅ قومی خدمت نشته - بلکه د پښتون قوم یوغد اریم - البته که....خان صاحب وائی نو بیا درته جواب در کولی شم - ولې هغه امید دې هم ځماتس نس کړو ولې ته وائی چه هغه پښتون نه دی څه وشوه او خبره دې فیصله کړه - په پښتنو کښی دقومی خدمت په لحاظ ځمانه پرېو تی هیڅوك نشته او دجو لا نه لاندې درجه د کفر وی »

دعلم پحقله هم «سودم ته شین دی» که مولانا ابوالکلام آزاد عالم وی نو بیازه جاهل یم - پخوا به می شعرونه مات رامات جوړول ولې چه دامقوله می ولوسته: چه دالشعراء لیقولون ما لایفعلون نو بهانه می پیدا شوه او .

لب از گفتن چنان بستم که گو ئی دهن بر چهره زخمی بودبه شد (طا لب)

البته دنثر په لیکلو مجبوره یم چه قریباً یوزر کالدا ری دهند حکو مت ددې دیا ره

راته را کوی - او ددهلی دپښتو څا نګې ددې پرو ګرامونه که زه ئی خوښوم او کنه اوته ئی خوښوې او کنه هره ورځ دال انډ یاریډ یونه ستا سو پخدمت کښی پیش کیږی په هفته کښی یو ځل ددنیا په واقعاتو ددوشنبی په ورځ پخپله تبصره کوم او کله نا کله خبرونه هم اوروم ولی لیونی څه خاص بندیز او انداغ په ځان نږدی ممکنه ده چه په هفتو هفتو می غږ هم وانه وري که ځما شا ګردان پوره پوه شول او کشران مې علمی طور را لوی شول نو بیا درسره وعده کوم چه هیڅ کله به مې غږ وانه وري زه دشهرت دژوندنه ډیر تنګیږم .

په دهلی کښی پښتانه دپخوا په نسبت ډیر کم دی او دنورو سره مې دیو څو کسانو نه علاوه نه لګی ،

زندګی در گردنم افتاده بیدل چاره نیست شاد باید زیستن ناشاد باید زیستن

تول خلق می قدر کوی ولی زه ئی خپل بدقسمتی ګنم ځکه چه :

«کبر نی موت الکبراء»

(اوس په آخر کښی دمطلب خبرې ته را ځم)

ما او بینوا صاحب خپل نومونه غلط ایښی دی هسی خپل خوار پښتانه ورونه غلوو هغه دپښتون دزړه سردی بینوانه دی - زه دپښتون ددره څوڅو واره شړلی بینوا یم ګران نه یم اوس وخت راغلی دی چه مونږ نمر ته نمر او کارغه ته کارغه ووایو او دا خپل نومونه سره بدل کړو هغه به ګران شی او زه بینوا پښتنو ورونو ! تاسو ورته سفارش وکړی چه ځما داسوال ومنی دادروغ ویل نه هغه له ښه دی او نه ما له -

دپښتون دزړګی سرپه ګرانو ګرانه -

تاته څوك وائی بینوا بی نوا نه ئې -

(ګران)



بناغلی داکتر انوارالحق « گران »

ادبیات

د شاعر د زړه آواز

« ښاغلی امیر حمزهٔ شینواری د پښتو »
« یو پیاوړی پوخ شاعر دی. مونږ غواړو چه »
« کله کله دده د خولې نغمی د کابل »
« لو ستو نکو ته وړاندې کړو. »

په ما کښې جهانونه دی درون داسې دنیا یمه
ده هره ذره مې لکه لمر هغه فضا یمه

یوه کړی قرار را سره نشته په غوغا یمه
عمر مې په دار دی ایوټه یم په ژړا یمه

زه یم داسی ښار چه یکښې ډېر ډېر بازارونه دی
ډک ټی له خفگان او خوشحالی نه دوکانونه دی

❀ ❀ ❀

زه د ننه منځ کښې د سیندونو غونډې شورلرم
بل د ارمانونو خپله خوا و شاکی اورلرم

څوک چه راشی خپل ورله رنگ ور کړم هسی زورلرم
څومره چه راتلونکی رانه لاړشی هومره نورلرم

کوم بربنډ چه مالره راځی رانه جامه غواړی
گویا زوړ مضمون راشی خونوې سرنامه غواړی

❀ ❀ ❀

تنگ شی په اول کښې د راتلو چه ارمانونه کړی
زه هغه فانوس یم چه بر ښنا یکښې برقونه کړی

یم هله ودان چه اوسېدونکی مې جنگونه کړی
وځی نغمی ، لوبې چه مضراب سره تارونه کړی

ستاسو په دنیا کښې ښه او بد زما له شوره دی
ضد نه ضد و باسم بارانونه مې له اوره دی

❀ ❀ ❀

ژاړم په بلبل کښې هم په گل کښې خاموشی یمه
رنگ د شفق زه یم د شرابو بې هوشی یمه

تېر چه مجاهد کړی د خپل سر هغه جوشی یمه
زه د حسن و عشق د دواړو منځ کښې سرگوشی یمه

اورې به مې تل چه په نغمه او هم زخمه کښې یم
بیا چه فکر و کړې په زخمه نه په نغمه کښې یم

زړه د سیاست شی په درزا چه زه پیدا شمه
وتښتی نفاق تري چه زه کوم محفل ته را شمه

هلته شی سحر د آزادۍ چه په خندا شمه
شپه د غلامۍ کړمه په بډه چه رڼا شمه

فخر ددعا په ژبه تل کوی مذهب په ما
زه یم چه رنګین دی دفترونه دادب په ما

❀ ❀ ❀

یم دجفا کشو دهقانونو په سندرو کښی
بانګ یم د همت د قافلې په مسافرو کښی

وی می حکمتونه په ساده ساده خبرو کښې
پړق لکه خو ګلن دلاندې پټوی په بڅرو کښی

تل چه پرې وی شپه د غریبۍ هغه جهان یمه
زه خپلې تیارې لره سپوږمۍ یم پرې روښان یمه

❀ ❀ ❀

چرته سر ښندمه په وریل د جانانه زه یم
یا د صوفیانو په محفل کښی ترانه زه یم

خاندمه په روغو پورې هغه دیوانه زه یم
هر چاته مفید یم هغه قول رندانه زه یم

زه یم آئینه د سادګۍ د درد جلا لرم
نه ګورمه ځان ته ځکه عکس د هر چا لرم

❀ ❀ ❀

چرته (سمندر) یمه (۱) استوګنه چه په اور لرم
ساه یم د سیندونو دموجونو غونډې زور لرم

روح دفردوس په بل جهان کښی ګډ په شور لرم
لونم مرغلرې هم سروټکی د پېغور لرم

چرته دپښتو ژبې شفیق لکه (تورسم) (۲) یمه
چرته دپښتو ادب (خلیق) (۳) لکه قلزم یمه

❀ ❀ ❀

چرته بادشاهی د اورنګ زیب زما غړکه ده
چرته په شړومبو پسې خودی راځنې ورکه ده

چرته معشوقه ده هندکۍ چرته خټکه ده
کله راسره غاړه غړۍ ده کله ورکه ده

کله په دوستۍ ئی نفرین کړم په زړه کلک یمه
چرته هم زړه ور دا پریدیو په کومک یمه

❀ ❀ ❀

زه یم دمغل داس د سوم چه غبار نه زغمم
قوم راته غوریزدی د زامنو ګذار نه زغمم

بد زغمم عکسونه دستم انتشار نه زغمم
څنګه آئینه یم دوېښته هومره بار نه زغمم

غنږ کړی پرې بلبلې ددوام په بیاض باغ لرم
داغ دقوم ددرد په بوی کښې ګل دزړه چراغ لرم

❀ ❀ ❀

چرته ګهر چرته له مشکنو سوا سپک یمه
هر چېرته موجود یم ولې بیاله منځه ورک یمه

هم ګوشه نشین هم سرګردان لکه پتک یمه
یو ځای کښی (حمزه) یم په بل ځای (خوشحال خټک) یمه

اورې ګورې ماخو په باطن کښی زه یورازیم
ودې پېژندم؟ زه د شاعر د زړه آوازیم

۱- سمندر بدر شوی .

۲- تورسم دمردان .

۳- خلیق د مانګی

نغمې دسوی زړه به پښتنو ته اوروم

ښاغلی لعل محمد « احمدی » دقاضیانو دمدرسی محصل :

وطنه ستا کوکۍ اوستا ګلونه بویوم
ستاونې او ستا بوټی په سرو اوښکو لویوم

ګلان دي غوړیدلی دا بلبلې ناخبرې
په چغو په نارو دغه بللې خبروم

ساتم به دې په توره ای زما دپلار وطنه
داخدای راکړی سربه ستا په لار کښی لوبوم

چه نیسی په کښی توره اووطن ساتی له غیره
زه دغسی منګلی د زلمیانو ښکلوم

زښه پکار پوهېږم نه بېعقل یم نه ناپوهه
اوس ویښ یمه له خوبه که پخوا د خوبوم

چه څورا کښی ساه ښوری اوژوندی مې خلك بولی
نغمی د سوی زړه به پښتنو ته اوروم

زه هغه پوست نیسم یم چه غوټۍ په سهار سپړی
خپه په خوب ویده قوم خندا ته جوړوم

زه موریم نذر کړی ای وطنه ستا دپاره
منکر نه یم له دېنه ځان له تانه جاروم

زه نه یم بې همته نه پروا دمال اوسر کړم
وطنه ستا په مینه مال او سر قربانوم

زه هغه ننګیالی یم چه معلوم یم درست جهان ته
غلیمه ستا په منځ کښی سپینه توره ځلوم

که وائی (احمدی) چه پښتنو له خوبه پاڅی
ادامی وظیفه کړه نه احسان پرې باروم

❀ ❀ ❀

دښاغلی محب الرحمن «هوسا» : اووه بندیز شعر

سترګې ډکې دشرابو ، جامې سرې لکه لاله ستا
دا یوه نښه زما ده ، او دابله وباله ستا

ته ګلشن ئی دګلونو ، ښاخ په ښاخ ئی ګل غوټۍ دی
دا غوټۍ دی زما هیلې ، خو سپارلې مې دی تاله

مرګ اوژوند مې خپل تړلی ، دی داستا په رضا پورې
زه بلبل ستا دګلشن یم ، په هرښاخ کښی مې ده جاله

ستا دګل مخ په لیدومې ، سینه سپرد هر ازغی کړه
ولې دې صبا د ظالم څه ، صبر ونکړ لو ما له

زه ئی ژوبل په زړګی کړم ، ومې نه څکله پیاله ستا
شپه اوورځ مې په فراق کښی ، له زړه وینې رابهېږی

څوك مې نه پوښتی له حاله ، لادارو درمل خوپرېږده
چه له درده په فریاد شم ، بېدردان پرې خوشحالیږی

دازار پنجره کړی سازه وائی دائې به سر کېږده

ره لـه غمه ورته ژاړم ، دوی په ما خندا هوس کا
زما غم په دوی اختر دی ، وایی زړه دې مدام رېږده
شپه او روځ آزادی غواړم ، ګوندې وینم دوشاله ستا

ای ظالم صیاده ! ولې زه دې اړې لـه آشنا کړم
څه کا نه دې په ما وکړه ، راته مات دې کړه څانګو نه
بیادې بندلا په پنجره کړم ، دادې څومره ظلم زوردی
ته لـه خدایه نه ویرېږې ، چه په ما وهې بانګو نه
رب دې ما په شانتې خوار کړه ، چه په حال مې ته خبر شې
چه پتا در حوالـه شی ، هره ورځ د غم ډانګو نه
چه بیا بل په آزاره نکړې ، شی دا ظلم ازاله ستا

نور له هر څه بېنوایم ، خو له مینې مې زړه ډک دی
په دې مینه او سو داکې ، د بلبل غوندې غږېږم
دغه مینه مـې پرتا ده ، ای زما ښکلـی وطنه !
نور مې هېڅ له لاسه نه شی ، تش په دې مینه نازېږم
ننګیالو زلمو ته وایم ، چه مو وتړی مـلا کلکه
خپل دردونه مو دوا کړی ، لیکه دازه چه ګواښېږم
چه خدای وکله ټول حساب شو ، په مینو کښی هاله ستا

د نړۍ خلک هوسا دی ، نن په علم او کمال خپل
د تخنیک لمـر دی ختلـی ، د هرچا د بام د پاسه
د کمال په میومست دی ، چاته نه ګوری لـه خیاله
هر سړی په ځان ډاډه دی ، جیب ئی ډک دی له الماسه
پښتون ولی خوار وزار او ، د غفلت په خوب ویده دی
په یو عزم دې را پاسی ، وخت ئی وزی نور له لاسه
په سر توري درنه غواړم فضل لوی ذوالجلاله ستا

❀ ❀ ❀

پښتون

ښاغلی ګل شاه صافی :

خوراک لرمه وینه پروا ګیر نه یم دچا
داو کړی مې خپل سر دی دوطن په ارتقا

پښتون ځوی د بابا یم دوطن په درد درمن ګټلای مې په وینو پلار پشان دی خپل وطن
په وینو به ئی ساتم ورله به راوړم علم او فن په زیب زینت به جوړ کړم د وطن هر یو چمن
خپل سر به ورنه ځار کړم زه مجنون دا می لیلا
خوراک لرمه وینه پروا ګیر نه یم د چا

پښتون یمه په غېږد پښتنې یم روزل شوی وړنی کښی سربازی سبق دی ماته ښودل شوی
لغت د غلامی مو له قاموسه رټل شوی د وینی په قیمت مې حریت دی منل شوی
په لوړ همت غیرت به ورنه ځان کړمه فدا
خوراك مې توره وینه پرواګیر نه یم دچا

پښتون یم آزموده جنګی میدان کښی بریالی ده زغره مې په تن ولاړ دښمن ته زمریالی
نه ډار لرم نه وېره غیرتمند یم ننګیالی په وینه لژند خوښ یمه په جنګ کښی توریالی
میدان کښی دغیرت توره ځما کوی بریښنا
خوراك می توره وینه پرواګیر نه یم دچا

چمن، سېوی، چترال پورې ځما پراته زلمیان کشمیر، کلګت، اټك، بلوڅ مې ورور پروت تر ایران
دشرق نه غرب، شمال، جنوب ته ټول دي یو افغان یوه وینه یو روح یو موزانګو ده د آریان
غورزنګ چه په دشمن کړم زازله شي ورپیدا
خوراك لرمه وینه پرواګیر نه یم دچا

په وینه د مظلوم زه خپله ځان نه غټوم ښیښه به د امید د وطن خواه نه لوټوم
عصري علم وطن ته له هر خوانه زه راوړم طوطی زه دخپل باغ یمه تورزاغ به تري شړم
په فکر به یوه کړمه د څېر می پښتون خوا
خوراك لرمه وینه پرواګیر نه یم دچا

له خوبه پاسېدلای یم نو ومی لید جهان وزرونه مې چه مات وو اوس صحت دی راعیان
په یوه عقیده فکر وایو مونږه په ایمان لوی واړه به غونډ شو یو مرکز غواړو دځان
یا به مړه شو یا به ورسو ترخپلې مدعا
خوراك لرمه وینه پرواګیر نه یم دچا

❀ ❀ ❀

پښتونه !

ښاغلی محمد ایوب « مهمندی »

نور کوی ژوند په ښو مانیو او بنګلو پښتونه ته ئې لا پروت په سپیرو خاورو کې دغرو پښتونه
داتوم قرن دی هر څوك ځانته سامان جوړوی ته کوې خواست په ټیټو ستر ګو له پردو پښتونه
چه ئی ژوندی نو معیشت مم دژوندیو کوه ستا له دی ژوند نه خو بهتر دی حال دمړو پښتونه
په خپل قانون ګرد ملل تلی لاهم ځی په سرعت ته ئی روان په کنږه لاره په ورو ورو پښتونه
توپ او ټوپك جوړوی خلق د پردو د پاره ستا ټټر سپر دی دخپل ورور ګولو برچو پښتونه
تشه خندا د غلیمانو غولول دی کوره ! مه خطاو زه د دښمنو په خوږو پښتونه
یو بل نه وړاندې له دې خاورې ځان فدا کی ورونو ! هر ګړې ساته ځان د نورو له طعنو پښتونه
ددې غفلت له خوبه پاڅه تجاهل مه کوه ! وطن رڼا که د علومو په وړنګو پښتونه
بغض وعناد له منځه ورك کی داغیار مه منی ! وطن ودان کی په یو لاس د ښو ځلمو پښتونه
د « مهمندی » لنډه وینا نور څه اثر نه ښندی خاص دی ملهم چه ئی تل ږدی په ټپو زړو پښتونه

منثور ادب

پنځه دیرش کاله پخوا او اوس

ښاغلی حبیبی :

په کوچنی والی چې زما ستر ګې په تورو آشنا شوې، نومې دپلار په کتابو کې یو کوچنوتی کتاب وموند چې نوم ئې « روضهٔ حکم » ؤ.

زه په پاړسو ښه هم نه پوهېدم ، مګر دا کتاب به مې سره اړاوه !

دوه درې کاله وروسته ، چې ددې کتاب دلوستلو ورشوم ، نو به مې لوست ، او د کتاب په پای کې یوه مقاله وه «وطن عزیزم افغانستان» .

ما به دا مقاله ویله ، بیا به مې ویله ، بیا به مې ویله کله کله به ئې داسی اثر را باندې کاوه ، چې ژړل به مې هم !... نه پوهېدم چې لیکوال ئې څوك دی ؟ او ولې دونې اثر لری ؟

وروسته چې زه د« وطن» په معنا او مفهوم وپوهېدم ، نو دې مقالې لاډېر اثر را باندې کاوه ، او دا مقاله ماته لومړی «وطنی درس» ؤ او زما په فکری مرا کزو کی دونې ځای نیولی دی، چې تر اوسه هم دهغې مقالې الفاظ او کلمات زما په دماغ کې منقوش دی .

اللهم اغفر لکاتبه وارحمه ، وتجاوز عنه وزدفی حسناته .

ای صبا ! ای پیك دور افتادگان اشك ما بر خاك پاك او رسان

څو کاله وروسته دا کتاب زما په کورنی درس کی هم داخل شو، حضرت استاد به هم دا مقاله په ډېر جوش راته ویله ، اوز به پوهېدم ، چې دا خبری یوازی پر ما داسی اثر نه کوی ، بلکه نور هم ژړوی .

دا د پنځه دېرشو کالو خبره ده، زمانه دستر ګو درپ په تو ګه تېره شوه، ډېر حساس زړونه، او دردمند دماغونه خاورې شول . ډېرې آرزو ګانې تر تور وخاورو لاندې شوې ! مګر هغه اوښکی لانه دی وچې شوې !!! او د وطن دښتونه او مځکې لاهغسې توری ولاړې دی ـ کورونه کنډ والې دی ـ پښتانه لا په هغه جهالت کی غرق دی ـ او که اوس هم یو څوك دزړه درد په قلم ولیکي ، نو به دهغې مقالې په کمه نه وی .

(پاتی په پنځه لسم صفحه)

پریشانه افکار:

منثور ادب

مدام به نه وی ستا ښائست

زما سوالونه !

ښاغلی عبد الله بختانی

گرانې .

پخپل حسن اوجمال ، ښائست اوجلال باندې مغروره کېږه مه!

ستا حسن ، ستا ښائست ، ستا ښکلا لکه دوریځې سیوری، زر درنه ځی .

زمامینه ، زما محبت ، زما عشق دائمی اوتر مر گه راسره دی .

ستا داڅو ورځې دآزموینی وخت دی ، کو ښښ و کړه چه دآز موینې په میدان کښې بریالی شې اودمینانو زړونه لاس ته راولې!

جفا مه کوه! ستاتش کتوته هوسېږم ، په تش کتو زمازړه خوشحالوه!

زما دزړه خوشحالی ، فرحت ، تود والی ستا دحسن بازار تود وی .

ستا ښه او بد ، لطف اوقهر ، رحم اوظلم زما دحافظې به دفتر کښې تل دپاره ښتیږی .

(دڅور اسم صفحی پاتی)

ښه ـ اوس به نوله ځانه سره حساب و کو. په دې دېرش څلوېښت کاله کې موږ څه و کړه چېرې ځو؟ پر کومه خوارهی یو؟ .

راشی ، چی بیا پرځان وژاړو ، اوښکې توېې کړو ! گوندې دچا پردې بربنډو ، وږیو ، تږیو ، ناروغو ، زپلو ، نتلیو زړه وسوځی او په حیاتی غم کې راسره شریک شی .

وران کورونه ، وران ښارونه ، وران دښتونه وینمه

ناو رمه خندا ، بې د مظلو مه لـه ژ ړا نه

یبلی پښې بربنډ صورت په وږې گېډه گرزی تل

ولې دپښتون په احوال نه ژاړی اسمانه ؟

۱۵ دقوس ۱۳۲۷ (ع ، ح)

زمانه هم چه دواقعاتو نامه نگاره ده ستا وضعیتو نه چه له ماسره ئې کوې دخپل آژانسی نمائنده (تاریخ)په زریعه وروستی نسل ته رسوی .

نوراشه ! له عواقبونه غافل کیږه مه!اودخلکو له بدو ویلو نه ځان ساته ، اودخپل کتلی نوم او محبوبیت مه بر بادوه !

لږ زړه سوی او رحم درته پکار دی .

ښه کوه ! بد مه کوه :ځکه چه:-

مدام به نه وی ستا ښائست زما سوالونه!

❀ ❀ ❀

مینی !!

ته چه معشوقه ئی ځکه چه زه عاشق یم .

که زما عشق نه وی ستا معشوقیت څوك پیژنی ؟

که زه سودائی نه وای ستادحسن په بازار کښې به چاسودا کوله ؟؟

که زما دزړه مینه نه وای ستا ښکلیتوب اوجمال به کله داسی څر کند شوی ؤ که زه ستا وروځو نه دحاجاتو محراب ونه وایم بل څوك دې د«صنم»په نامه نه یادوی .

که زه ځان ستامریني ونه کښنم ستا باداری بیا معنی نه لری .

ته ځکه عزیزه ئی چه زه ستا ددروازې په خاورو کښې ناست یم، ستا په ستر ګو کښې ځکه سرخی ده چه ما خپلی وینی ستا دمقاصدو دتامین دپاره سرفې کړې دی .

خلاصه : که زه مجنون نه وای ته به لیلی نه وې !

ملتفته شه ! زه هم تا غوندې مخلوق یم که ظاهراً درته سخت اریم ، په حقیقت کښې ته راته زیات احتیاج لری .

نوڅر نګه چه زه در پسی ګرځم ، ته هم راباندی کبر مه کوه ! ځکه چه « کبر له زوال دی » او « هر عمل عکس العمل لری » .

دوخت ته کار واخله !

او په خپل حسن اوجمال ښائست اوجلال باندې مغروره کیږه مه ! ځکه چه :

«مدام به نه وی ستا ښائست زما سوالونه»

ته مې خوښ یې !

« ښاغلی نظامی »

ای دحسن فرشتې، اوای داسمان ستوریه !

ته زما محبوب یې، اوته زما دژوند ستن یې !

زه پرتامین یم، اوستا له سببه څخه په دې پر مشقته او مصیبت لرونکې د نیا ژوند غواړم.

ځکه چه ته زما دحیات سرور او خوشحالی یې ؟

او بېله تامې دبل چا سره علاقه نشته ، ځکه چه ته مې خوښ یې !

تا ته ما دحسن فرشته او د آسمان دستوری خطاب وکړ. زه پدې خپلو خطابو پښیمانه نه یم.

ځکه دوی لکه بر ښنا تېر یدونکی دی. او دستر ګو په وپ کښې محو او فنا کېږی.

بهتره داده چه پر تامې دعشق او جمال توم کېښو دلی وای، اودا مې ویلی وای چه ته عشق یې او ته دجمال رب النوع یې،

ځکه عشق او جمال فنا کیدونکی نه دی او توم یې په نړۍ تل ژوندی پاته کېږی.

څووارهمې درته په جرئت وویل چه: ته مې خوښ یی، او ته زما په زړه اقتدارلرې، اوزه ټول تا ته تسلیم یم، زما وجود ستا دعشق او محبته څخه ډک دی.

ته دمحبوبانو په ډله کښی پاچایې، اوزه ستا مریی او پرتامین یم، پر ما لطف او مهربانی وکړه ځکه زه ستا وفادار یم او بېله وفا ستا د عشق په لیارو کښی بل کار نه لرم.

مګر افسوس چه ته زما په خبرو باندې ملنډې وهې او دبې اعتنائی په ستر ګو را ته ګورې.

دهغې روځې څخه ته له مانه مرور شوی وې، او په قهر دې را کتلی و، دغو کتلو زما په زړه د ګولۍ غوندې تاثیر کړی دی، مګر پر ارونه مې دهغې حیا له کبله چه ستا په مقابل کښی یی لرم پټ ساتلی دی، او تل ستا په حضور کښی دخپل عجز او بیچارګۍ اظهار کوم داسې عجز او بیچارګی چه یو وفادار مین ئې دخپل محبوب په مقابل کښی کوی.

مګر اوس نه پوهیږم چه هغه حیا او ناتوانی مې ورو ورو په بېره او ګوشه ګیرۍ ولې بدله شوې ده ؟ ځکه هر کله چه زه ستا آواز اروم ټول وجود مې رپیږی، اپه هر ځای چه ته یې زه ددا خلېدو قدرت نلرم ؟ !

پښتو ژبه

لکه چه څرنګه خدای پاك د دنیا په مخ ډېر قومونه پیدا کړی دی او د هر قوم خپل تهذیب، تمدن، وطن او نور قومی صفتونه دی، دغه شان او هم ددې قانون لاندې د افغانستان د زیاتې حصې اوسیدونکی قوم پښتون هم دی، او خدای پاك ورته خپل خصوصیات ورکړیدی، او د خپلې بېلې ژبې خاوندان دی او دوی دنیا ته پښتو وائی پښتو یوه ډېره پخوانۍ او زړه ژبه ده، د سنسکرت او د اوستا همزولی یا دیږی، پښتو یوه ډېره لویه او خوره ژبه ده د خپلو لفظونو ذخیره ورڅخه ډېره زیاته ده، او په هیڅ خبره کښی د نورو ژبونه کمه نه ده، خو که کمی ئی ده نو ددې خبرې ده، چه د دولسمې پېړۍ نه پس ځامنو ئی دېته شا کړېده. پخواله دې په ژبه کښی ډېر مشهور شاعران او داسې نامتو ادیبان تېر شوی دی چه ترنن ورځې پورې د دنیا د مهذب قومونو تاریخ دانان او ادیبان ئی په صفت نه مړیږی لکه د پښتو ژبې پلار د ختکو مشهور خان نواب خوشحال خان ختك او دهغه د تېر ښاغلی شاعران، د پښتو بابا عبدالرحمان ممند او دهغه د دلې مشهور شاعران، عبدالحمید ماشوخیل، عبدالعظیم بابا رانی زی او د افغانستان خواخوږی پادشاه لوی احمد شاه بابا او دغه شان نور ډېر ادیبان ددې نه مخکښی تېر شوی دی او د پښتو ادب ته ئی ډېره زیاته ذخیره پرې ایښی وه، د پښتو په ادبی نسخو کښی پټه خزانه چه محمد هوتك لیکلی ده تاریخ کښی ئی مثال نه شته، افضل خان ختك لیکلی شوی تاریخ، د خوشحال خان بابا دیوان. بازنامه او دغه شان دده تر دوه نیم سوو پورې نور کتابونه، د عبدالرحمان بابا ښکلی دیوان د علی خان. عبدالحمید بابا، عبدالعظیم بابا، نه پاتې شوی دیوانونه داسې دی چه پښتو ژبه پرې فخر کولی شی.

که چیرې وکتلی شی، نو پښتو ژبه کښی هغه صفتونه ټول موندی شی، کوم چه یوې ژبې ته پکار وی ځکه دې سره خپل الفاظ ډېر زیات شته خونن ورځ چه مونږ ته ډېر کم ښکاری نو دهغی وجه داده چه یو خو ډېر داسې ټکی دی. چه مونږ نه دی اورویدلی ځکه چه ددې پېړۍ پښتنو د پښتو نه ځان نه دی خبر کړی، او ددې نه مخکښی چه د پښتو کوم ډېر ټکی په ژبه ویلی شول هغه دوی ته نه دی رارسیدلی، او بله وجه ئی داده چه په دیار لسم او څوارلسم پېړۍ کښ د پښتنو وطن ته نورو قومو ډېر داسې څیزونه راوړل، او ډېر داسې کارونه پیدا شول چه ددې نه مخکښی پښتنو نه وولیدلی او د پښتنو په ملك کښی نه وو، نو ددغې څیزونو یا کارونو د پاره د پښتو خپل ټکی چوړ نه کړی شول او هغه نوم او ټکی په پښتنو کښ هم هغه شان مشهور شو.

(د تجلی مجله - د مارچ میاشت ۱۹۴۹ ع)

ښاغلی ډاکټر ذاکرحسین د جامعه ملیه پرنسپل
او دعلیګړه یو نیو رستهی وایس چانسلر

د پټنی د بانکی پور مشرقی کتب خانه

د ښاغلی سیفی ترجمه :

دا یو منلی شوی حقیقت دی چه مغلی شاهانو د علم او ادب په روزنه او سرپرستی کښی د بغداد او قاهری او قرطبی د حکمرانانو غوندی شهرت نه درلود . سره ددی دا هم حقیقت دی او یوه ښکاره واقعه ده چه هر کله د دوی د بربریت دوره پای ته ورسېدله او د چنګیز خان اولادونو اسلام قبول کړ نو دغو خلکو د علماوه په روزنه او د علم او فضل په قدردانی کښی پوره برخه واخیستله هم دغه سبب ؤ چه نصیر الدین طوسی او قطب الدین شیرازی او سعد الدین تفتازانی او نور ډیر پوهان د دغی مغلی حکومت په دوره کښی د علم او فضل ځلاند ستوری وو او د دغو حکمرانانو د فیاضی په سیوری کښی د هوسا ژوندانه خاوندان وو . د هندوستان مغلی حکومت هم د علم او هنر په روزنه کښی ډیر جګ مقام درلود د سلطنت موسس ظهیر الدین بابر په ترکی او فارسی ژبو کښی د لوی لاس خاوند ؤ او دده د ترکی دیوان یوه قلمی نسخه د لعلپور په کتابخانه کښی شته دی . همایون هم سره ددی چه دی یو ډیر سرګردانه پاچاؤ لیکن سره ددی هم ده به د پوهانو ډیر قدر کاوه . که څه هم اکبر پخپله د کوم ډیر تعلیم خاوند نه ؤ لیکن سره ددی هم که څوک غواړی چه دده د علم پروری څخه په پوره ډول خبر شی نو د آئین اکبری او روستنی بابونه دی و ګوری جهانګیر په خپل توزک کښی لیکلی چه ما د یوسف زلیخا یوه نسخه په شل زره روپۍ اخیستلی وه او هم له دی واقعی څخه انسان ته دده د علمی قدردانی اندازه په ښه ډول ښکاره کیدلی شی د بنګال د (ایشیاټک سوسائټی) په مشرقی کتابخانه کښی هم ډیر دارار کتابونه شته چه په دغو کتابو شاه جهان د څوارلس کلنی په عمر کښی د سخطونه کړیدی . له دی څخه دا حقیقت په واضح ډول ښکاره کیږی چه ده په کوچنی والی کښی د علم سره پوره علاقه درلوده او رنګ زیب عالمګیر پخپله د علم خاوند ؤ او علما ورته ډیر ګران وو او دده په رقعات عالمګیر کښی د علمی قدردانی ډیر زیات شواهد شته دی . لنډه دا چه د مغلی شاهانو د علم پروری او قدردانی له کبله له ډیلی څخه د علم او فضل مرکز جوړ شوی ؤ او د ډیلی په شاهی کتاب خانه کښی د خطاطی او مصوری ډیری ښکلی نمونی جوړی شوی وی او له دی کبله چه په دغو ورځو کښی په منځنی آسیا او ایران او عربو کښی د طوایف الملوکی او جنګونو یوه اوږده سلسله قایمه شوی وه نو د دغو ځایو کتب خانی او علمی ذخایر هم ډیلی ته را منتقل شوی وو او په کوم وخت کښی چه په دکن کښی قطب شاهی او عادل شاهی حکومتونه هم نیست او نابود شو نو د دغه ځای کتب خانی هم د ډیلی شاهی کتب خانی سره ملحقی کړی شوی . او که د ځینو امر او کتاب خانی به ضبطی شوی نو هغه به هم د شاهی کتاب خانی سره یو ځای کولی شوی . لکه چه د اکبر د دربار ملک الشعرا فیضی

مړشونو ددغه شاعر ۴۳۰۰ کتابونه شاهي کتابخانې ته منتقل کړي شو . لنډه داچه دډيلي هاشي کتب خانې دخپل عظمت او ندرت په لحاظ ساري نه درلود .

په اتلسمه پيړۍ کښې د(اوده) په نوابانو کښې هم د قدردانۍ حس پيداشو او ددې کار په اثر دلکهنو کتب خانې ډېر شهرت وموند .

دايزيډنټ په اشاره د المان مشهور مستشرق مستر (اشپرنګ) ددې کتب خانې د اردو او فارسي کتابونو يو لوی فهرست مرتب کړ ، برخېره پردې دوو کتب خانو ، دوطن په نورو برخو کښې هم نوري ډيري کتب خانې هم وې ، مګر دډيلي او لکهنو دتباهۍ اود ۱۸۵۷ع کال په هنګامو کښې دمسلمانانو دياد ګيرنې وړ علمي خزانې تباه او برباد شوي .

په ۵۷ کال کښې درامپور نواب انګريزانو سره ملګرتيا وګړه اوله دې کبله دتالا کړو شوو شيانو څخه ډيره برخه دده لاس ته ورغله . ده په انګريزي عسکرو کښې په دې مضمون اعلان کړي ؤ چه هر يو سپاهي چه قلمي کتاب راووړ هغه ته به دهرې قلمي نسخې په په بدل کښې يوه روپۍ ور کولی کيږي .

په هرحال داخو دتېرو خلکو خبرې وې ليکن ددې نه په وروسته خلکو کښې هم ډېر داراز خلک وو چه دتېرو خلکو پاد ور باندې تازه کيده دبهار دمربوطاتو په(چهپره) نومي ښار کښې وکيل محمد بخش نومي يو سړي ؤ چه دقلمي کتابونو سره ئې ډيره زيانه مينه درلوده ، او دې شوق اندازه لدې څخه کيدلی شي چه دمرګ او ځنګدن په وخت کښې هم دده په مخکښې کتابونه پراته وو . ده خپل زوی خدا بخش ته په دې مضمون وصيت وکړ چه که وخت او زماني موقع در کړه نو ته دې خاندانۍ کتب خانې ته ترقي ور کړه اودا کتاب خانه دعمومي افادې دپاره وقف کړه !

دغه خدابخش داګست په اوم په ۱۸۴۶ کال په (چهپره) نومي ښار کښې پيدا او په ۱۸۵۴ کال کښې دپټنې په اعداديه سکول کښې داخل شو او په ۱۸۵۹ کال کلکتې ته دتعليم دپاره ولاړ او په ۱۸۶۱ کال کښې ئې دکلکتې ديونيورسټۍ څخه دمېټرک شهادت نامه واخېستله او ددغې کامياب نه وروسته دضلع دجج (قاضي) دوړاندې مقرر شو ، ليکن بيائې ديو مجبوريت له کبله خپل دغه ماموريت پرېښود . دېنه وروسته دسکول ډيټي انسپکټر مقرر شو . ليکن څه موده وروسته ئې دا ماموريت هم پرېښود . او په ۱۸۶۶ کال کښې ئې وکالت شروع کړ او پدې کار کښې ئې ښه کاميابي وګټله په ۱۸۷۷ کال کښې ور له دحکومت دخوا يوه اعزازي صداقت نامه ور کړي شوه او په ۱۷۹۱ کال کښې ئې دمشرقي کتابخانې اساس کښېښود ، اود اکتوبر په ۲۹ ئې مکمله کتابخانه دځمکې اوودانۍ سره ديوې وقف نامې له رويه دحکومت دنګرانۍ لاندې ملک او ملت ته وسپارله او په ۱۸۹۵ کال کښې دحيدر آباد د نظام له خوا چيف جسټس مقرر شو او ددريو کالو دمودې دخلاصيدلو نه وروسته په ۱۸۹۸ کال کښې دحيدر آباد نه پټنې ته راغی او بيائې وکالت شروع کړ په ۱۹۰۳ کال کښې ورته د سي، آئي، اي، اعزازي خطاب ور کړ شو او دمياشتې په دوه سوه روپۍ معاش ورته د کتب خانې انتظام وسپارلی شو . ليکن افسوس چه ددغه ماموريت څخه ئې لاپنځه کلونه پاته ووچه دآګست په دريم ۱۹۰۸ کال دشپې په يوه بجه د خپل عمر په ۶۲ کال په پټنه کښې مړ شو .

د کتب خانې ددوو عمارتونه په منځ کښې چه څه لږه غوندې فاصله او خالي ځای پاته ؤ دې په هغه خالي ځای کښې دده دوصيت سره سم ښخ کړي شو .

خلک وائي چه خدابخش سره په کتابونو راټولولو کښې فرښتو ډېره مرسته کړي وه . که دا افسانه غلطه وي او يا صحيح ، ليکن دومره خبره بالکل رښتياده چه دې کتاب خانې سره محمد مکي نومي

عرب ډېره مرسته کړېده ، وائي چه خدابخش دغه محمدمکي نومي عرب په پنځوس روپۍ میاشت معاش په کتبخانه کښې مقرر کړی‌ؤ ، اودغه سړی دعربو ، شام ، مصر ، ایران ، څخه ډېرنادر قلمي کتابونه دې کتبخانې ته‌راوړی‌وو ، اوپخپله خدا بخش مرحوم دحیدر آباد دملازمت په دوره کښې دخپل کتبخانې دپاره کافي‌ذخیره ټوله کړی‌وه او حقیقت خو دادې چه قدرت هم ده‌سره یه‌دی لار کښې پوره مرسته کړی‌وه وائي چه‌دمشرقي کتبخانې یوصحاف کتبخانه سوروی کړی اولدغی کتبخانې څخه‌ئې څوجلده قلمي نادر کتابونه غلا کړی‌وو اودغه نادر قلمي کتابونه‌ئې لاهور ته‌وړلی اوپه‌یو کتب فروشي ئې خرڅ کړی‌وو، کتاب فروش داخیال وکړچه خدابخش ددې راز شیانو ډېر قدر کوي نوددې مفکوره په اثر ئې دغه کتابونه ده ته‌دخرڅولو دپاره راوړل اوددې کار په‌اثر د کتابونو غل معلوم شواوغله ته‌سزاور کړی‌شوه اود کتاب‌خانې کتابونه بېرته کتب خانې ته وسپارلی شو .

هم‌دغه راز یوه‌بله ناآشنا پېښه واوری‌یوځل دپټنې دضلع‌جج مسترجی ، بی ، ایلیت د خدا بخش څخه دکمال الدین اسماعیل اصفهانی دقصائدو یوه قلمي نسخه دڅو ورځو دپاره وغوښتله او د مطالعې نه وروسته ئې دغه نسخه ډېره خوښه شوه او په ځای ددې چه دغه کتاب بېرته ور کړی خدابخش ته‌ئې یومقدار روپۍ د کتاب دقیمت په توګه ور کړی او خدابخش په ډېره مجبوری‌د کتاب دغه قیمت واخیست اوله دې کبله چه مستر ایلیټ ددې راز قلمي کتابونو سره ډېره مینه درلوده نودمجبوریت له کبله ئې‌هیڅ و نه ویلی‌شو څه موده وروسته دی د خپلې وظیفې څخه موقوف شو او دپټنې څخه دتللو په‌وخت کښې ئې منتخب کتابونه په‌یو بیل صندوق کښې ددې د پاره واچول چه دخپل ځان سره ئې یوسی او د (بوډلین کتب خانې) ته ئې ور کړی او نور بیکاره کتابونه ئې په یوبیل صندوق کښې واچول او خپل نوکرته ئې وویل چه داصندوق بازارته یوسی او لیلام ئې کړی اتفاقا نوکر دمنتخبو کتابونو صندوق په بازار کښې لیلام کړ او دغه ټول منتخب کتابونه د خدابخش لاس ته دلیلام په‌توګه ورغلل اوپه دغه صندوق کښې برڅیره د کمال الدین دقصیدو څخه نور ډېر نادر او قیمتي کتابونه وو ، او په‌دغو کتابونو کښې « دمجالس خمسه هغه نسخه » هم‌وه چه دشاهجهان امضا ورباندی وه دی ددې نادرو کتابونو په اخیستلو دومره خوشحاله شوچه فی‌الحال ئې دشکر سجده وکړه. لیکن په کوم وخت کښې چه ایلیټ انګلینډ ته ورسېد او دخپلو کتابونو صندوق ئې بېرته کړ نو دومره خپه شو چه اندازه ئې نه وه .

یوه ورځ خدابخش په حیدر آباد کښې دخپلې دائرې څخه راته او په‌بازار کښې ئې د کتابونو دلټون دپاره دبازار یوخوا بل خوا دوکانو ته کتل چه په دې لړ کښې ئې ناڅاپه په یودوکان کښې د زړو کتابونو یوډېری‌ولیده‌او ورتلو سره‌ئې له دوکاندار څخه ددغه ډېری‌د قیمت پوښتنه وکړه دوکاندار ورته‌وویل‌چه‌صاحب !چه که بل‌چا پوښتنه کړی وای نومابه داټول ډېری‌په دری روپۍ ور کړی وای لیکن له دې کبله چه ته د کتابو ډېر شوقي ئې نوتاته به‌ئې په‌شل روپۍ در کړم . او دا ځکه‌چه‌ممکنه ده په دې کښې به کوم ښه شی هم وی ، ده دغه ډېری‌په‌شل روپۍ واخیسته او په دې کتابونو کښې ډېر ښه‌ښه کتابونه را ووتل . لیکه چه له‌دغو کتابونو څخه دیو کتاب په قیمت کښې ده ته دحیدر آباد نواب څلور سوه روپۍ ور کولی او ده هغه کتاب په دغو روپو ورنه کړ . هم دغه راز ده ته‌د « برټش میوزم » دیو کتاب ډېر جګ قیمت ور کاوه لیکن ده دغه کتاب ورنه کړ او ورته ئې وویل چه زه د پیسو دپاره دخپل پلار وصیت دپښو لاندی کولی نشم .

کوم شوق چه خدابخش د کتب خانی سره درلود دهغی شوق د تفصیل دپاره یو مستقل کتاب لازم دی لیکن دده دشوق اندازه له دې څخه کیدلی شی چه دده دمرګ نه دوه ورځی وړاندی چه مرض ئی ډیر سخت او حواس ئی بالکل خراب شوی وو، وئی ویل چه دسنن ابوداود فلانی قلمی نسخه دفلانی الماری په فلانی خانه کښی دفلانی کتاب لاندی پرته ده دخدابخش دوفات په وخت کښی د کتب خانی د کتابو شمیر پنځلس سوه ؤ چه له دې جملی څخه دولس سوه خدابخش پخپله اخیستلی وو او درې سوه ورته دپلار نه پاته شوی وو د خدابخش په وخت کښی دغی کتب خانی پوره ترقی و کړه او د دغی کتب خانی د کتابونو شمیر پنځو زروته رسیدلی وه ...

چه تفصیل ئی دادی : - دعربی خط نسخی (۲۹۵۱) دفارسی خط نسخی (۲۵۰۰) د اردو خط نسخی (۵۶) دترکی خط نسخی (۱۵) ټوله (۵۵۲۲) نسخی : په ۱۸۹۱ کال کښی چه د کتابونو ټول شمیر دری زره ؤ نو په دغه وخت کښی د (سرالفریډ ګرافټ) د کتنی لاندی دمخطوطاتو یو متخصص ددې کتب خانی قیمت تقریبا دوه نیم لکه ښودلی ؤ ، برخیره پر قلمی کتابونو ده د عربی ، فارسی ، اردو ، او انګریزی کتابونو یوه کافی ذخیره هم ټوله کړی وه او ددغو کتابونو دقیمت اندازه له دې څخه کیدلی شی چه په دغه کتب خانه کښی یوازی دانګریزی کتابونو قیمت تقریبا یولک روپۍ ؤ .

لیکن داشمیر دخدا بخش مرحوم دوفات په وخت کښی ؤ او اوس ددغی کتب خانی د کتابونو شمیر ډیر زیات شویدی .

دمستر صلاح الدین د وصیت سره سم دې کتب خانی ته دده (۷۲۰۰) کتابونه منتقل شوی دی او په دې ډول د عربی ، فارسی اردو ، انګریزی ، ډیر نور کتابونه هم دغی کتب خانی ته منتقل شویدی چه فی الحال ددغی کتب خانی دټولو کتابونو شمیر څلرویشت زره دی که دبانکی پور د مشرقی کتب خانی سره مونږ د نړی د نورومهمو کتب خانو مقائسه وکړو نو بی ځایه به نه وی .

دانډیا آفس کتب خانه (۲۹۸۸) دلندن دموزیم کتب خانه (۲۹۶۱) ، دبوډلین کتب خانه (۲۰۲۰) ، دبرلین کتب خانه (۱۰۹۸) ، دپاریس کتب خانه (۱۱۶۰) د حیدر آباد د کن سعدیه کتب خانه (۳۰۵۲) دپورته ذکر شو یو معلوماتو څخه داخبره په پوره ډول څرګندیږی چه دبانکی پور په شرقی کتب خانه کښی له نورو ټولو کتب خانو څخه ډیر کتابونه شته دی .

اوس غواړم چه د ښاغلو لوستونکو د معلوماتو د پاره ددې کتب خانی ځینی مهم او نادر کتابونه ذکر کړم .

په دې کتب خانه کښی د عربی کتابونو پوره ذخیره شته دی . او لکه چه وړاندی مو لیکلی دی ددغو کتابونو شمیر له دریو زرو څخه هم ډیر دی ، په دغی کتب خانه کښی د قرآن کریم څو نایابه نسخی شته دی . یو حمایل په کوفی خط لیکلی شویدی او د اعراب دپاره ئی سرې نقطی استعمال شویدی او معلومیږی چه دغه حمایل په څلورمه هجری پیړۍ کښی لیکلی شویدی بله نسخه یاقوت مستعصمی په خیل لاس لیکلی ده چه دخطاطی ډیره غوره نمونه ده او په ۶۶۰ کال کښی لیکلی شویده .

بله نسخه دمیر علی تبریزی ده چه څوک ددې نسخی طلا کاری او منقش حواشی او ددې نسخی د کرښو په منځو کښی نقاشی او زرنګاری وګوری نو هغه ته به دپخوانیو خلکو صنعت په ښه ډول ښکاره او دغه شاهکار ته به حیران پاته شی یو مصحف د عبدالباقی جداد دلاس لیکلی شویدی چه شاهجهان دغه مصحف ته دیاقوت رقم خطاب ورکړی ؤ .

په تفاسیرو کښې دزمخشري د کشاف یوه نسخه ده چه دسلطنت شاهرخ د کتب خانې د پاره لیکلې شوې وه دسیوطي اتقان دده خاص شاګرد داؤدي په خپل لاس لیکلې شوې ده په حدیث کښې د خطیب بغدادي الکفایه هغه قیمتي نسخه ده چه پخپله شاه زاده ابوالعباس احمد به هم په دغه کتاب کښې درس وایه په دې کتب خانه کښې یوبل کتاب « المشیخه » نومې کتاب دې چه بله نسخه ئې هیچرته نه موندلې کیږي .

په دې کتب خانه کښې ډېر داراز کتابونه هم شته چه مصنفانو په خپل لاس لیکلې دي . چه په دې کتابونو کښې شرح خصوص الحکم ، توابع الکلم ، منتقی ، مواهب المدینه ، ، مختصرالنهایه، شرح ابن ماجه ، الاربعین په خاص طور سره دذکر وړ دي . فی التصوف ددې کتب خانې د قیمتي کتابونه څخه دي او دا ډېر پخوانی کتاب دي . پرته له عربي کتابونو څخه په دې کتب خانه کښې دفارسي کتابونه هم ډېره ذخیره شته دي چه له هغو څخه ځینې مهم کتابونه دادي :

دیوان میرزا کامران ، دا دشهنشاه همایون دورور میرزا کامران دیوان دي ، کامران په شعر او شاعري کښې لوی لاس دراود اوده به په فارسي او ترکي دواړو ژبو کښې شعرونه ویل او په دې کتاب کښې ددواړو ژبو شعرونه شته دي ، په دې دیوان کښې غزل، قطعه ، رباعي ، د فارسي او ترکي دواړو ژبو مثنوي ګانې شته دي . د کتاب په شروع کښې دالف په ردیف کښې شپږ غزلې دي چه امري خلور په فارسي او روستي دوه په ترکي کښې ده .

او ابتدائي له دې شعرونه څخه شویده .

چون به مقصود نشد هیچ کسی رهبر ما — بعد از این خاك در پیر مغان برسر ما

کار ما چون ز دربستهٔ زاهد نخشود — بو کزین پس ز خرابات کشاید در ما

بارکی مست وشب تیره ورهزن به کمین — وای اکر هادی لطفت نشود رهبر ما

دفارسي یوه بله مطلع ده .

غمت را کامران در دل نهفته — که باشد گنج را ویرانه منزل

د کتاب په امري مخ دجهانګیر په لاس داعبارت لیکلی شویدی ؟

« الله اکبر »

دیوان میرزا کامران که عم پدر پدر بزرګوار من است بخط محمود بن اسحق شهابی حررهٔ نورالدین محمد جهانګیر شاه سنه ۲۰ جلوس موافق سنه ۱۰۳٤ه « الحمدلله الذی انزل علی عبده الکتاب حرره شاه جهان ابن جانګیر شاه . »

ددې نسخې کاتب خواجه محمداسحق شهابي دی چه دی دمیرعلي نه وروسته دوهم سړی ګڼل شي ، دا کتاب په ښکلي نستعلیق ، خط لیکلی شویدی او د سرو زرو اوبه ورکړې شویدی ، دا دیوان پرته له دې کتب خانې هیچیرته نشته دی .

اقبال نامهٔ جهانګیر ، دمصنف نوم محمدشریف دی چه په معتمدخان مخاطب دی د کتاب دنوم څخه معلومیږي چه مصنف به دې کتاب کښې پوائي دجهانګیر دسلطنت ددورې تذکره کړې ده لیکن حقیقت دادی چه په دې کتاب کښې دا کبیر او جهانګیر دواړو حالات په پوره تفصیل سره شته دي .

داقبال نامې ددریو جلدو څخه دریم جلد چه دجهانګیر دحکومت ددورې سره تعلق لري په عمومي ډول پیداکیږي ، اود هندوستان اواروپا په کتب خانو کښې ئې ډېرې قلمي نسخې شته دي لیکن داقبال نامې لمړی اودوهم جلد ډېر نادر او کمیاب دي (ریو) لمړی جلد ډېر نادر او کمیاب لیکلی دي . پروفیسر

بیتی پر شاد هم په خپل (Historyofjahjangeer) نومی کتاب کښی لیکلی دی چه لمړی دوه جلدونه ډیر نادر او کمیاب دی ؛ دپټنی د مشرقی کتب خانی مولوی عبدالمقتدر کټلاگر هم لیکلی دی چه ددې کتاب لمړی دوه جلدونه کمیاب دی .

په بوډلین ، کمبرج او ایشاتک سوسایټی بنگال په کتب خانو کښی یواځی د دریم جلد څو قلمی نسخی شته دی لیکن دپټنی په مشرقی کتب خانه کښی د اقبال نامی مکمله نسخه شته دی چه ۱۰۹ لمبر لری . داقبال نامی د لمړی او دوهم جلد څو نسخی دنړۍ په نورو ځایو کښی هم شته لیکن د مشرقی کتب خانی اقبال نامی په دغو اقبال نامو داښه والی لری چه دادنورو اقبال نامو په نسبت مکملی اوډیرې صحیح دی او په ښه او صحیح ډول لیکلی شوی دی د جهانگیری اقبال نامی دلیکلو د کال او نیټی په خصوص کښی څه ویل اوصحیح معلومات ښکاره کول انسان کار نه دی ، ځکه چه په دوی کښی ځینی داراز نسخی شته چه دهغو دسر په پاڼو بالکل کوم هجری یاعیسوی کال اود لیکلو نیټه نده لیکلی شوی - او یواځی دومره لیکلی شویدی (لسم د ربیع الاول د جلوس ۱۹ کال) له دغو لیکلو څخه (ایتهی) په دې ډول استنباط کړیدی چه دا جلوس به غالباً د عالمگیر جلوس وی ، په دې حساب ددغه کتاب د لیکلو کال (۱۰۸۷) کیږی مگر کیدلی شی چه دغه جلوس دمحمدشاه اویا شاه عالم گیر ثانی دجلوس کال وی چه د ۱۹ کلو څخه ئی ډیره موده حکومت کړیدی - له دې کبله د (۱۰۸۷) کال په یقینی ډول دلیکلو کال نشی گڼلی - دانډیا آفس په دوهم ټوک هم کوم تاریخ نه دی لیکلی شوی . دبانکی پور دمشرقی کتب خانی په مکمله نسخه هم تاریخ نه دی لیکلی شوی په دې کتب خانه کښی دلمړی ټوک یوه مکمله نسخه شته دی لیکن افسوس چه په هغی هم د لیکلو کال نه دی لیکلی شوی خلک وائی چه دعلی گړه په کتب خانه کښی د اقبال نامی ځینی نسخی شته دی چه په هغه د لیکلو کال (۱۱۰۳) د ۳۵۰ دعالمگیر دجلوس سره سم لیکلی شویدی .

« کلیات جامی » په مشرقی کتب خانه کښی چه د کلیات جامی کومه نسخه ده هغه دا خصوصیت لری چه دهغه لمړی ټوک مؤلف (جامی) په خپل قلم لیکلی دی ، ددغه کلیات بل ټوک د (سیټ پټرس بورگ) په کتب خانه کښی ؤ لیکن معلومه نده چه دلوی جنگ نه وروسته به دغه کتاب څه شوی وی ؟

برخیره په کلیات ، دجامی رحمة الله علیه دیوان هم په ډیرو کتب خانو کښی شته دی - دجامی ددیوان یوه نادره قلمی نسخه دامریکی د پنسلونیا په لافیټ کالج کښی شته - دا د جامی د کوچنیو کوچنیو نظمونو یوه مجموعه ده - جامی په جام (خراسان) کښی د۱٤۱٤ ع کال د نومبر په ۷ نیټه پیدا شوی اود ۱٤۹۲ ع کال د نومبر میاشتی په ۹ نیټه په هرات کښی مړشویدی . دغه دجامی دمرگ نه ۳۲ کاله وروسته ددغه وقت دوو پیاوړو معروفو خطاطانو په مذهب او مطلا ډول لیکلی ده .

په دی دیوان کښی قصیدی - غزلی اورباعیانی دی او ۳۵۱ مخونه او څلور تصویرونه لری . په لمړی تصویر کښی جامی دیو فلسفی سره خبری کوی اوددغه تصویر په یو گوټ کښی دمصور امضااودا عبارت لیکلی دی دا محمود مذهب جوړ کړیدی په دوهم تصویر کښی ملازمان په یو باغ کښی دیوی میلمستیا انتظام کوی او یو فقیر خپل یو کوچنی په خپله غیږ کښی نیولی هغوته گوری . په دریم تصویر کښی د ایران سلطان حسین بایقرا دخپلو درباریانو اوځینو یوهانو په ډله کښی ناست دی - په څلورم تصویر کښی یواستاذ دخپلو شاگردانو سره په یو باغ کښی ناست دی - دکتاب په آخر کښی لیکلی دی (دا کتاب سلطان علی مشهدی په (۹۰۰ه) هجری کال کښی د۱۵۱۵ عیسوی کال سره سم په هرات کښی لیکلی) .

دا کتاب اول اول دبابر دپاره تیار کړی شوی و ، اودده دوفات نه ورسته څوك چه دده په ځای ناست وو هغه دغه کتاب شاهی کتب خانی ته ورکړ - په دی کتاب دجهانگیر، شاهجهان ، او اورنگ زیب امضا گانې شته دی - څه موده وروسته دغه کتاب دپاچا له خوا دهدیې اوشاهی عطیې په توگه دځینو ولایاتو والیانو ته ورکړی شو اوپه دې ډول دیویو والی په کتب خانه کښی تر ۱۸۵۷ ع کال پورې پاته شو ، اوبیا پدغه کال کښی دغه کتاب دنورو مالونو سره ضبط کړی شو او جیمس اسکاټ (Jamesloncscott) نومی یو امریکائی مشن دغه کتاب په لیلام کښی واخیست او دغه کتاب ئی دهدیې په توگه لافیټ کالج ته ورکړ .

دجامی یوسف زلیخا دمشهور تصنیف یوه نسخه ۹۳۰ ع کال کښی دامیر علی په قلم لیکلی شویده او ددی کتاب په تیارولو شل زره روپۍ صرف شویدی - خان خانان عبدالرحیم دغه کتاب جانگیر ته دنذر په ډول وړاندی کړی ؤ - اوپه دغه وخت کښی هم ددغه کتاب قیمت یوزر طلائی سکی وې .

ددې کتاب بله نسخه په ۱۰۱۸ کال کښی دپیاوړی خطاط میرعماد په قلم لیکلی شویده چه دایران دپاچا شاه عباس په دوره کښی ئې پوره شهرت درلوده ددې نسخی دتکمیل نه اوه کاله وروسته دی په ۱۶۱۵ کښی ووژلی شو . انسان ددې کتاب لوړی خطاطی اونا آشنا مصوری اومذهبی اومطلا نقاشی ته حیران پاتی کیږي . « تاریخ خاندان تیموریه » ددې کتاب دمصنف نوم په پوره او صحیح ډول معلوم نه دی لیکن دومره خبره یقینی ده چه دغه کتاب داکبر اعظم په وخت کښی تصنیف شویدی ، پدې کتاب کښی دتیمورنه نیولی داکبر اعظم ددورې دنولسم کال پورې واقعات لیکلی شویدی دتاریخ په لحاظ نه لیکن دآرټ په لحاظ دا کتاب ډیرجگ کتاب دی په دې ټول کتاب کښی (۱۱۷) تصویرونه دی اوپه هر تصویر کښی مصور خپل نوم لیکلی دی په دې تصویرونو کښی داگری ددربار ددیارلسو مصورانو تصویرونه هم شته دی اوپه دغو ټولو تصویرونو کښې د(بساون) او (مسکین) تصویرونه دیادولو وړ دی . ددې کتاب په سر کښی دشاهجهان دلاس یوخط اومهرونه هم شته دی اود کتاب په یو گوټ کښی د(وارن هیسټنگس) دزمانی دمشهور فرانسوی مؤرخ (گیلډوین) امضا گانی هم شته چه له دې نه معلومیږی چه دا کتاب څه موده دده سره هم ؤ هم پدغه مخکښ یوبل مختصر تحریر هم شته چه لدغه تحریر څخه معلومیږی چه ددې کتاب په تیارولو اته زره روپۍ لگیدلی دی (شهنشاه نامه) ددې کتاب مصنف حسین دی . دادترکو تاریخ په شپاړسمه پیړی کښی لیکل شوی دی . دا کتاب د سلطان محمد ثانی د قسطنطنیې د فاتح منظوم تاریخ دی . دا نسخه دسلطان محمد ثالث دپاره مصنف په خپله تیاره کړی اودسلطان په نوم ئې معنونه کړی او په شاهی کتب خانه کښی ئې داخله کړی وه .

دانسخه تریووخته پوری دقسطنطنې په شاهی کتب خانه کښی پرته وه اودشاه جهان د حکومت په دوره کښی هندوستان ته راوړلی شوه .

اود ډیلی شاهی کتب خانی ته ورکړی شوه - ددی کتاب لمړی مخ دامضا گانو اومهرونو څخه بالکل ډک دی . په دی امضا گانو کښې نایابه او مهمه امضا دممتاز محل دگرانی لور جهان آرا امضاده .

ددی کتاب تصویرونه دهندستانی او ایرانی طرز دتصویرونو څخه بالکل جلادی اودبازنطین طرزاثر په کښې ښکاره دی . دغه شهنشاه نامه پرته له مشرقی کتب خانی په بل هیڅ ځای کښې نه موندلی کیږی .

« دیوان حافظ » په دې کتب خانه کښی د حافظ ددیوان ډیرې نسخی شته دی په دغو نسخو کښی دحافظ دیوان یوه هغه مشهوره نسخه ده چه همایون ، جهانگیر او نورو پاچایانو ډیره زیاته د پالونو کتلو

دپاره استعمال کړی ده او په حواشیو باندی ئی ځای په ځای دخپل حال سره مناسب اشعار په خپل لاس لیکلی دی
د کتاب په ابتدا کښی سلطان حسین بیقره او نورو سلاطینو اوامر اوامضا ګانې کړیدی . په دی کتب خانی
کښی دحافظ د دیوان نوری نسخی هم شته دی ، چه یوه نسخه ئی په ۹۵۱ کښ دملامیرک په قلم لیکلی شویده
بله نسخه ئی په ۱۳۳ کښ دسلطان محمد قطب شاه د کتب خانی دپاره محمد محسن خوشنویس لیکلی ده
، دا نسخه د ګولکنډې د فتح کولو نه وروسته داورنګ زیب لاس ته ورغلی ده . دحافظ دیوان دریمه نسخه هم دې
کتب خانه کښی شته دی چه مطلاده اوزرین عنوانونه او ښکلی تصویرونه لری .

جهانګیر نامه : شاید چه داخبره به ډیرو لږو خلکو ته معلومه وی چه جهانګیر برخیره په توزک جهانګیری
یوه بله جهانګیر نامه نومی کتاب هم لیکلی دی چه ددې کتاب نسخی ډیری لږې پیدا کیږی - په دی
کتب خانه کښ ددی کتاب هغه نسخه شته دی ، چه په ۱۰۲۰ هجری کال کښی پخپله جهانګیر دخپل دربار
په یو خط ط لیکلی او قطب شاهی ته ئی لږلی وه . د ګولکنډې دنیولو نه وروسته دغه کتاب دسلطان محمد لاس ته
ورغی ، لکه چه ددی کتاب دسر په لمړی مخ دنوموړی شهزاده لاس لیک هم شته .

په دې نامه یو بل کتاب هم پدې کتب خانه کښی شته دی چه دغه کتاب پدې شعرونو شروع شویدی ..

ای نام تو سرد فتر اسرار وجود نقش صنعت بر درودیوار وجود

در پردهٔ کبریا نهان گشته زخلق بی خود عیان بر سر بازار وجود

کلیات سعدی : په دې کتب خانه کښی دسعدی د کلیاتو هم ډیرې نسخی شته دی چه یوه نسخه ئی په
پنځلسمه پیړی کښی لیکلی شویده دا نسخه دخطاطی غوره نمونه ده یوه نسخه ئی دشیراز یو خطاط لیکلی ده ،
اودا دسعدی د کلیاتو ډیره پخوانی نسخی ګڼل کیږی .

دسعدی د کلیاتو یوه ډیره نادره نسخه زمونږ په ذاتی کتب خانه کښی شته په نستعلیق خط لیکلی
شویده ددې کتاب خط ډیرښه او حروف ئی ډیر واضح دی او په دې کتاب کښی غزل ، قطعه ، رباعی هر څه شته
د کتاب په لمړی مخ په یو ځای کښی لیکلی شوی دی :

(دوصد وسی ورق هست) ددې خط لاندی دو . امضا ګانی دی یوه امضا د حسین خان کرامی او بله
دعبدالحسین ده دمخ په یو ګوټ کښی ئی د (وران هیسټنګس) دعهد دمشهور فرانسوی مورخ (ګلیډوین) امضا شته
په انګلیسی کښی یوه بله امضا هم لری چه هغه نشی لوستلی . په دې کتاب دامجد علی شاه ، شاه نصرالدین حیدر
او واجد علی شاه مهرونه دی . دامجد علی شاه په مهر کښی داشعر لوستلی کیږی :

ناسخ هر مهر شد چون شد مزین بر کتاب خاتم امجد علی شاه زمان عالی جناب

انګلیسی امضا نشی لوستی لیکن ممکنه ده چه دجارج بیلی امضاوی برخیره پردې کتابونو په دغه
کتابخانه کښی شاهنامهٔ فردوسی سر دیوان خسرو ، دیوان امیرخسرو ، مطلع الانوار ، هفت بند کاشی ،
بادشاه نامه سیرت فیروز شاهی ، دیوان رکن صائن دیوان اثیرادمانی ، تاریخ ابوالخیر فانی عرفات العاشقین
خلاصة الاشعار دیوان علی نقی کرد ، مکاتبات علامی ، جواهرالعلوم او نور هم دذکر وړ کتابونه شته .

(آجکل اکتوبر ۱۹۴۸ ع)

د علیګړه یو نیو رستی



د دهلی جامعهٔ ملیهٔ اسلامیه

تر ظ

په پښتو د موضح الفرقان تفسیر چاپېدل

ډېره د خوښۍ او خوشحالۍ خبره ده چه د اعلیحضرت محمد ظاهر شاه په دې روښانه علمی دوره کښې په پښتو باندې د موضح الفرقان تفسیر چاپ او د پښتنو د استفادې د پاره میدان ته راووت، دا تفسیر په اصل کښې مولانا شیخ الهند په اردو ژبه ایکلی دی او اوس په کمال کښې په پښتو او فارسی دواړو ژبو ترجمه او طبع او خپور شو. په دې تفسیر کښې تر تحت اللفظی ترجمې علاوه پاس په حاشیو باندې ځینې مفید توضیحات او تفسیرات هم شته چه په هر لحاظ یو غوره او مهم تفسیر ګڼل کیږی.

دا تفسیر په دوې جلده کښې خپور شوی دی چه هر جلد ئې اس اس سیپارې دی. طباعت ئې ډېر اعلی او قریباً بې مثاله او بې جوړې دی.

د پښتو د تفسیر د مبارک اولوی کار د ښاغلی برهان الدین کښککی په اور همت او ټینګه اراده سرته رسیدلی دی. تقریباً څو کالونه د غه ښاغلی په دې بختور کار باندې بوخت و او ټپه ورځ ئې د کښې زیار و بستلی دی. اصل ترجمه د ده له خوا شوی ده او بیا ده عربی دارالعلوم د ځینو علماؤ له خوا تصحیح شوی او کتل شوی ده چه د هغوی خدمت هم دیادونې وړ دی.

څوک چه د دې تفسیر د روند کار نه خبر شی او د انصاف په سترګو وګوری نو په مترجم به ئې ډېر تحسینونه ووایی او ده د استر دینی او ملی خدمت به ډېر لوی او قدر وړ وګڼی.

د دې پښتو تفسیر چاپېدل د پښتنو د پاره یو غټ زبری دی ولی چه په خپلې مورنۍ ژبه به د قرآن له پاکو مضامینو څخه په آسانۍ فایده واخلی او د ژمی د پېدا او تکلیف به ورته نه وی.

پښتو ټولنه د دې مبارک اثر په چاپېدو ډېره خوښی ښکاره کوی او مترجم او خپرونکی ته ئې له خدای نه ډېر اجرونه غواړی.

په پای کښې له ټولو د پښتنو څخه هیله کوو چه د دې تفسیر په مطالعه کښې بختور کاندې او د مطلب عاثر له پاره خپل ځان ئې لاس ته راوړی.

(د صحافت مخاذګه)

دیو پوه پښتون لیك

دپښتو ټولنې ښاغلی مدیر صاحب !

پنځلس کاله دمخه مې نیت کړی و، چه پیاده حج ته ځم اودفېرنګی حکومت څخه به په اول ځل دافغانستان په آزاده کوڅه ورننوځم، واقعات ددنیابدل شول، اوزما ارمان، ارمان پاتې شو، پس دهغه لس کاله دمخه مې زړه غوښتل چه دافغانستان په ځمکه وګرځم، دلرغونو نیکونو په پلونو پلونه کېږدم، قندهار، غزنی، پغمان ووینم، دغور غرونه چه پښتانه ئی په لمن ساتلی دی ووینم دمیرویس خان په مقبره څو اوښکی توئې کړم او داسی نور آثار په ژوندون ووینم هر کال به مې داسوداوه آخرداسی وخت هم راغی چه زه دنورو ادیبانو ورونو سره «پښتو ټولنی» وبللم زما دخوشحالیو حال دابجد ابتث په لمنو کښی نغښتی نشی الله خبردی، چه زه په کوم شوق درروان وم دپاکستان حکومت ډېر په مینه پاسپورټ را کړو ستاسو مامور صاحب ویزه کړو دیوې هفتی څخه دمخه انتظام شروع شو دا صندوق دازړو کی فلانی کتاب، هغه څیز. دغه څیز یوخاص کتابګی مې واخیست چه په ده کښی به سفرنامه لیکلی شی لنډه داچه ترخپل وس هر څه پوره پوره شول، وروستی شپه راغله خلق ویده شول ولې سمندر ناقلاره و بهېدو ولی دډېرې خوشحالی دکبله سحر شو، لمونځ می اداکړو دقاضی احمد سعید صاحب اودنورو خلقونه مې بښنه واخیسته وړه جنی مې ښکل کړه راروان شوم، چه په کوڅه وتم نوضمیر می څه ووې خوزه ډېر په جوش کښی وم پوه نه شوم لاړم، دخلیق صاحب ددوکان دغونډېدو نېټه وه. زه په ځای دنهو بجو انه نیمې بجې ورسېدم، دوکان لابند ؤ، کېښیناستم یو دوست تېرېدو، مسېدلی رانزدې شو سلام ئی واچولووې اخبار کښی مې لوستلی دی چه جشن ته روان ئی، ښه شو چه مې ولیدې ماته به یو (قراقول) اوبوسیټ دچایو لوښی یه ضرور راوړې ماوی ذمه مې ده، بیایی ووې

چه" قاضی احمدسعید؟" ماوي هغه خونه ځی ځکه چه بللی شوی نه دی، هغه وي بیانونه څنګه بې له هغه روان ئی ؟!!! دهغه خبره لاخلاصه نه وه، چه ضمیرمي هم هغه آواز دوباره وکړو، کوم چه ئی په کوڅه کښی کړی ؤ، دارادي په دنیا مي زازله شوه، او به فکر کښی کېناستم دزنګون په آینه مي سر کښېښود... یه خدایه! چه وکړم نوڅه وکړم هلالی راغلو، مولنا عبدالقادر صاحب، خلیق، رسا وغیره راورسیدل، هلالی ووي چه زو نز دپاره د کابل نه موټر راغلی وه خو په څه وجه غالباً چه موټر یه لاری کښی وا ستړ شو، او شوه نوزما دپاره دغه بابه ډېره وه، ماووي، چه زه خو یه لاری کښی نشم تلی، ځکه چه ناروغه کېږم، ملګرومی را باندي وس وکړو، خونو د(ملګری) مینې کلك کړم، او داسی مي د کابل دتلو خوشحالی نصیب نه شوه، دا او(معمنا) په صوبه سرحد کښی تر اوسه اردی اوتاته مي صحیح حال ولیکلو، خپله کم نصیبی مي ډېره ژړلي ده تر اوسه ئې ژاړم اوتر ژوندۍ به ئی ژاړم، ځکه چه داسي موقعي کله کله وی، بیا په یوځای کښی له خپلو ملګرو سره خبر شوم چه زمادنوم کالیزه، آریانا او ادبی جرګي دری کتابونه را رسیدلی دی، ځان راته ډېر ملامت وښکاریږو، چه ما تر اوسه چیتی قدر هم ونه لیکله نو بېنوا ور وره! په خدای یقین وکړه، چه زه دمینې سمندریم، خو ډېر په قلار بهېږم په خپله سستی داده یم چه زما څخه خفه نشي.

زه په خپله مورنۍ ژبه داسي مین یم چه شان ئی نشته، زه پښتو ایمان او ایمان پښتو ګڼم شل کاله دمخه چه خو تنو دپښتو دناوي وربل خورولو، له هغو څخه یوزه یم، نو چه ته اوستا نور ملګری هم دپښتو خادمان یاستیء نوزما مینه ربښتوني وګڼیء دادژبی مینه نه ده دزړه ده، دزړه نه هغه خوا دوینی ده، اوس به دادب څه خبري وکړو، ماعرض کړی و چه د"عروض" می په پښتو ترجمه کړي ده، دلته ددي کتاب دچاپ کېدو امکان ځکه نشته، چه زمالاس نه رسیږی اوماره دادب څخه ماره ناست دی، که چېري تاسو دا کتاب چاپ کوي، نوزه به ئی په څه ذریعه در واستوم او که نه وی نوخیر... خودا په کښی شرط دی، چه سل کتابونه به ددي صوبي دپاره ماته را کوی.

نور نوخادم، الفت، ربښتین او نورو تولو ادیبانو ورونو ته مي سیندونه سیندونه سلامونه اوغرونه غرونه مینه ورسوه، که ژوندوی نووبه وینو په خدای مو سپارم. (سمندر بدرشوی)

توکی تکالی

دناپوهانو سندری

(۱)

خلق . بل وطن خواری کړی ما په دوه سارو کی لڅ کړی کا روانه
سر به تر خپلې کو نډی جار کم پټی په ګرو کم مر کی به ور لېږ مه
توری وهم بی ننګه نه یم نن می تر بره لره وهلی سنګر ونه
امیره نور نو کر دی ډېر سه ماته رخصت را که چه خپل انګړ ته ځمه
خلق دخپلو غمخواری کړی زه په پردی واده د ځان سدری څیری مه
که می څه نزده غم می نشته زوی به خر کار کم چه ډنډی را ته وهینه
ملا زما خپل اور غو می را که څوك ستا په کو ډوم ته لور ه را کوینه
دپر ګنو خاوند دی کار کړی زه له خواری په مېلو شپی صبا کومه
لور می زړه کړه مېړه نکه ځکه څوك زما په زړه ولور نه را کوینه
زه ترا ګړ لا ګړ ندی یم چه پور وړی په درو اغو تېر و مه
اصیل زاده یم بزګر نه یم خواری می عیب دی نو کودې به ټولو مه
که له خواری ژرنده څټمه له خیاله مزدو ژرنده ګړی ته بخښمه

(۲)

په نړی کی کوم سړی ترما بهتر دی یو می سور پټکی تر غاړه بل تر سر دی
ښه ډنډی وهم وټلی قسم خور یم ګمان مکړه ورور د ګټی بی خبر دی
که پردی تو کم د کام دپاره جنګ کړی ما وهلی خپل تر بره لره سنګر دی
که نور خلق شنو موټرو کی سپریږی زما مېښه هم خپل څښتن ته نور موټر دی
چه غالی په ګوتو اوبی زما پی څه شی زما پوزی ګوره سپېڅلی ژېړ ټغر دی
زوی غو به کړم زه پخپله خر کاری کړم مازده کړی له اګړه دا هنر دی
که څوك سم په غېږ راځی ورته ولاړیم ته به و ګوری چه کوم یو زوره ور دی
که څوك جنګ که په سوټو په متارانو زما قسم دی وزور دی یو په سلو بر دی
خلق وائی په دنیا کی ننداری دی ماته خپل چرګ سازول جنګ ته اختر دی
که څوك ناست دریل په لونه سیاحت کا ما نیولی تر سر و یښتی خپل کچر دی
په جهان کی اورم جنګ په طیاروسی نو که داوی دبل کنهی زما په سر دی

(عبد اللطیف «جلالی»)

دلته (حضرت ابو طلحه رض) د (حضرت محمد رسول الله ص) پحضور کښې دغسی عرض و کړ چه :

« یا رسول الله ! ماته ځما په اموالو کښې (بیرحا) ډېر محبوب »
« او زیاد مې خوښیږی - ځه غواړم چه همغه کوهی دالله تعالی په لیاره »
« کښې صدقه او خیرات کړم - اودهغه اجر اوثواب دالله تعالی له »
« دربارڅخه غواړم - دهغه کوهی واك او اختیار تاسو لری ، چه »
« په هر مصرف ئی لګوی ! »

دغه د «حا» د کوهی (۱) منافع د (حضرت محمد رسول الله ص) په مشوره د(حضرت ابوطلحه رض) پر اعزه ؤ-اقاربو او خپلوانو وقف کړ شو -

تر دغه وقت پورې کوم الفاظ چه د «وقف» لپاره استعمالیدل له هغو څخه یوازې همدغو مره خبره مقصود وه چه هغه مال له ذاتی تصرف څخه وایستلی شی او دالله تعالی په نامه خوشی کړ شی - لیکن د هجرت په اوم کالکښې د (خیبر) دغزا په تقریب کښې دغه حقیقت بېخی واضح کړشو . (حضرت عمرالفاروق رض) ته په (خیبر) کښې یوه ځمکه ور کړې شوې وه ، (حضرت فاروق رض) غوښت چه هغه « وقف » کړی نو پدغه مقصد د(حضرت محمد رسول الله ص) پحضور مشرف شو او هدایت ئی ترې وغوښت . (حضرت نبوی ص)ورته دغسی ارشاد و کړچه :

«ان شئت حبست اصلها » = « که غواړې نو اصل جائداد باقی وساته ! »
و تصدقت بها » = « او د هغه حاصلات او منافع صدقه کړه ! »

لکه چه پدغو لاندنیو شرائطو سره هغه جائداد وقف کړ شو :

« انه لا یباع اصلها » = « په تحقیق خرڅ دې نشی اصل دد غی ځمکی »
« ولا یوهب ولا یورث » = « او نه دې وبښله شی چاته او نه دې پمیراث ور کړه شی ! »

په نکاح کښې اصلاحات

د نکاح پمتعلق کوم اصلاحی احکام چه صادر شوی دی دهغو تفصیل د اصلاحاتو تر عنوان لاندې راغلی دی - دلته همدغو مره ښکل کافی دی چه پخوا له اسلامه په عربو کښې د نکاح څو طریقی جاری وې چه پهغو ګردو کښې پرته له یوی طریقی څخه نورې ټولی له (زناء) سره مشابهی اوورته وې چه له ګردو ادیانو څخه پخوا هغه ټولی د اسلام له خوا ړو مبی نا جائزی ودرولی شوی .

«متعه» یا محدود الوقت نکاح چه په عربو کښې له قدیم څخه پاتې وه - څو څو ځلی روا او ناروا کېده تر څو چه د (خیبر) په غزا کښې په قطعی ډول سره حرامه ودروله شوه . اګر که سره له هغه بیاهم دغسی یو ضرورت وړاندې شو چه (حضرت عمر الفاروق رض) دخپل خلافت په زمانه کښې پر منبر باندې ودرید او دغسی اعلان ئی وفرمایه چه :

---

(۱) : دغه دیوی ځمکی نوم دی چه په (مدینی منوری) کښې واقع وه .
(۲) : دغه ټول احادیث د (صحیح بخاری شریف) په باب الوقف کښې مذکور دی .

«لحه متعه حرامه کړلحوم» یعنی د «متعه» حرمت چه تر اوسه پوري په ښه شانی دملك پهر لحای کښ شائع او خپور شوی نه دی دهغه دحرمت تائید او تصدیق او اعلان بیا کوم .

دنکاح اودطلاق نور احکام منلا دشرعی محرماتو بیان - دمتبنی او دخولی دلحوی دمطلقی ښځی عدم حرمت - دکثرت الازدواج تحدید - دطلاق دتعداد تعیین - دعدت دزمانی بیان - دمهر ضرورت اودتعیین لزوم - «ظهار» یعنی د طلاق هغه طریقه چه پهغی کښ خپله ښځه په محرماتو سره ورته او مشابهه کوی - «لعان» یعنی دمیړه اشتباه دخپلی ښځی دعصمت په نسبت او پخپلو منځو کښ سره یو یه بل باندي پرخپل رپښتینتوب قسم یادول اوخپل مقابل جانب دروا غجنول - دغه ټول تفصیلات وروسته لدینه په نورو مجلداتو کښ داصلا حاتو تر عنوان لاندي راځی - دلته یوالحی د دغومره خبری څرګندول مقصود دی چه دغه ټول احکام درب العلام په کلام کښ اعلام شوی دی اودهغو دنزول زمانه دهجرت څلورم اوپنځم کال دی.

حدود او تعزیرات

د دنیا په مادی خزائنو کښ هیڅ یو داسي شی نه پیدا کیږی چه د انسان له حیات څخه قیمتدار وی . د حدودو او د تعزیراتو اکثره قوانین او احکام له هجرت څخه څو کاله وروسته نازل شول - لیکن د انسان د ژوندانه د قیمت او اهمیت احکام لا په (مکی معظمی) کښ صادر شوی و ، د (معراج) په سلسله کښ کوم اخلاقی او شرعی احکام چه د رب العلا م له دربارهٔ عطاء کړی شوی ؤ پهغو کښ یو حکم دغه هم و (۱)

« ولا تقتلوا النفس » = اومه وژنیء تاسی نفس هغه چه حرام کړی دی الله
« التی حرم الله الا » = [وژل دهغه] مګر پحقه سره [چه ارتداد زناءمع الاحصان
« بالحق ، ومن قتل » = قصاص دی] او هرڅوك چه ووژلی شو پدیحا لکښ
« مظلوما فقد جعلنا » = چه مظلوم وی نو په تحقیق کړلحولی دی مونږ د پاره
« لولیه سلطنا فلا » = دوارث دهغه زور قوة [چه له قاتل څخه انتقام اخیستی شی]
« یسرف فی القتل » = نو اسراف دي نکوی پقتلکښ [چه په ناحقه بل څوك
« انه کان » = ووژنی بی له قاتله] په تحقیق دغه [وارث] دی مد د
« منصورا » = ورسره کړی شوی .

په عربو کښ پخوا له اسلامه د قتل او د قصاص څه قوانین مو جود ؤ . له جهودانو سره چه پـه (عربستان) کښ دممتاز حیثیت خاوندان و د (توریت) د حدودو او د تعزیراتو یوه مجموعه وه - خو څرنګه چه په عربو کښ کوم منتظم حکومت او داجرائیی او دتنفیذ کوم قوت او قدرت او اخلاقی روح موجود نه و، نو هیڅ حدود او تعزیرات پر هغوی باندي نشوای اجراء کیدای. کله چه (حضرت محمد رسول الله ص)

---

۱ دغه د (بنی اسرآئیل) دسورة د (٤) رکوع د آیت تفسیر لحمونږ دپښتو «فوائد موضح الفرقان کابلی چاپ په ۱۷۳۵ و ۱۷۳٦ مخو کښ وګوری» !

(مدینی منوری) ته تشریف یووړه، نو جهودان د خپلو جګړو او دعوو د پریکړو او د فیصلو لپاره د (حضرت نبوی ص) بحضور مشرفیدل - او (حضرت محمد رسول الله ص) به هم د هغوی د دعو و او د جګړو د پریکړو او د فیصلو احکام د (توریت) له فیصلی سره سم صادرول .

په عربو کښې به د یوه تن قتل او وژل د سلها ؤ قبائلو د کورنیو جنګو سلسله پیدا کوله - نوبناء پردی د (بدر) له غزا څخه وروسته کله چه د اسلام په مټ کښې څه حکومتی زور او قوت پیدا شو نو د (قصاص) حکم نازل شو . په یادبه مو وی چه د (مدینی منوری) په اطرافو کښې د(بنو قریظه) او د (بنو نضیر)دوه جهودی قبائل اوسیدل چه ددغو دواړو جهودانو پمنځ کښې (بنو نضیر) معزز او پټمن کښل کیدل ، نو ځکه چه چیری د کوم (قریظی) له لاسه کوم (نضیری) وژل کیده نو د هغه (نضیری) په قصاص کښې به هغه (قریظی) قاتل هم په قتل رسیده . او که د کوم (نضیری) له لاسه کوم (قریظی) وژل کیده نو د هغه مقتول (قریظی) قصاص پر هغه (نضیری) قاتل به نه او بنت او یوالجی د وینی په بدل به سل وسق خرما ورکول کیدل . (حضرت محمد رسول الله ص) څه وقت چه (مدینی منوری) ته تشریف یووړه نو همدغسی یوه واقعه وړاندې شوه چه د هغی مرافعه د (حضرت نبوی ص) په حضور ور وړاندې کړه شوه چه د هغی په نسبت دغه آیات نازل شول (۱)

« وکتبنا علیهم » = او لیکلی فرض کړی وو - مونږ پر دغو [جهودانو]

« فیها ان النفس » = پدغه [توریت] کښې چه بیشکه نفس دې [ووژلی شی په

« بالنفس والعین » = بدل دبل] نفس کښې او ستر که دې [ړنده شی] په

« بالعین والانف » = [بدل دبلې] ستر کی او پوزه دې [پریکړه شی]

« بالانف والاذن » = په[بدل دبلې] پوزی اوغوږدې [پریکړی شی] په [بدل

« بالاذن والسن بالسن » = دبل] غوږ اوغاښ دی [وایستلی شی] په [بدل دبل] غاښ

« والجروح قصاص » = کښې اوپر هارونه قصاص بدل دی برابر

له دغه پاس حکم څخه علاوه اوبرسیره پردې نور آیات هم پدغه مورد کښې نازل شوی دی چه پهغو سره دغه مسئله بیخی سپینه او واضحه شوې ده (۲)

« یا یها الذین امنوا » = ایهغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی [یعنی ایمؤ منانو]

« کتب علیکم » = لیکلی فرض کړی شوی دی پر تاسو باندې قصاص

القصاص فی القتلی » = برابروالی په وژلیو شویو کښې [که عمداً وی]

---

(۱) : په (ابوداؤد) کښې کتاب الدیات وګوری . ددغه د « المائدة » د سورة د (۷) رکوع آیت تفسیر لحمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ په ۶۸۲ و ۶۸۳ مخو کښې مرقوم دی .

(۲) . دغه د « البقرة » دسورة د (۲۲) رکوع آیات دی چه د هغوی تفسیر لحمو نږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » له (۱۴۹) مخ څخه تر (۱۵۳) مخ پوری ښکلی شوی دی .

الحر با لحرو العبد » = اصیل [وژل کیږی پقصاص سره] په اصیل باندې او مریی
« با لعبد و الا نثی » = په مریی باندې او ښځه په ښځې باندې پس هر څوك چه عفو
« بالا نثی فمن عفی » = کړه شی [مصالحتا] ده ته له [قصاصه داسلامی] وروور
« له من اخیه شیء » = دده نه څه شی نو لازمه ده [پدی عفو کوونکی باندی مطالبه
« فاتباع با لمعروف » = دیة له قاتله] پمعروفی ښې وجهې سره او ور کول [ددیة
« و اداء الیه » = دی] هغه [عفو کوونکی] ته باحسان ښې وجهی سره دا
« با حسان ذلك » = [جواز دقصاص یادیة یاعفو] آسانی ده له [طرفه د] رب
« تخفیف من » = ستاسی اورحمة مهربانی ده [چه اختیار ئی تاسی ته در کړ
« ربکم و رحمة » = نو هرچاچه زیادة و کړ [پظلم او وژلو دقاتل] وروسته
« فمن اعتدی بعدذلك » = لدی [فیصلی چه دیت یاعفو ده] پس دی ده لره
« فله عذاب الیم » = عذاب درد ناك [ددوزخ پعقبا او قصاص پدنیا کښ]
« ولکم فی القصاص » = او دی تاسی لره په قصاص کښ [لوی] ژوند ون ای
« حیوة یااولی الالباب » = خاوندانو دعقلو لپاره ددی چه تاسی ځان وساتیء
« لعلکم تتقون » = [له ناحقو وینو څخه] وویرېږیء [له الله څخه]

دغو پاس احکامو دتل لپاره عدل [نیاو] او مساوات او انصاف قائم برابر او ژوندی کړ.

په جهودانو کښ د « دیت » اوخون بها قانون نه و (١) لیکن په عربو کښ دغه قانون موجود و چه اسلام پهغه کښ [لکه چه پاس په « فمن عفی له من اخیه ـ الایة » کښ مو ولوست] خو اصلاحات وکړل اوهغه ئی همغسی باقی پریښودل.

پخوا له اسلامه په « قتل العمد » او « قتل شبه العمد ـ قتل الخطا » یعنی په غلطی سره دانسان په وژلو کښ هیڅ تفریق نه و موجود. دهجرت په شپږم کال کښ یو مسلمان د بل مسلمان له لاسه په غلطی سره ووژل شو. او همداسی دیوه انصاری له لاسه یو قریشی هم په غلطی سره په قتل ورسید چه د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره ددغه مقتول (دیت) دهغه ورور ته ورکړ شو او راضی کړ شو ـ لیکن هغه په منافقت سره مسلمان شو او بیا په غدر او خیانت سره ئی همغه انصاری وواژه او بیرته مرتد وګرځید او له قریشو سره بیا ګډ شو نو پر دغی بناء « دقتل شبه العمد » پمتعلق متعدد آیات نازل شو (٢)

---

(١) : په (صحیح بخاری شریف) کښ په کتاب التفسیر د « کتب علیکم القصاص » د آیة تفسیر وګوری ه !

(٢) : دغه د « النساء » دسورة د (١٣) رکوع آیات تفسیر لحمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ له (٥٤٩) مخ څخه تر (٥٥٢) مخ پورې ولولی ه !

«وما کان لمؤمن ان » = او نه ښائی نه دی روا هیڅ مؤمن ته نه دی د مؤمن
« یقتل مؤمنا الا خطأ » = کار داچه مړ کړی بل مؤمن مګر په خطاء سره
« ومن قتل مؤمنا » = اوهر څوك چه ووژنی کوم مؤمن په خطاء سره نو
« خطأ فتحریر رقبة » = [شته پرقاتل] آزادول د غاړې [دمریی] مؤمن
« مؤمنة ودیة مسلمة » = او[بل] دیة دی سپارلی شوی اهل[وارثانو] دمقتول
« الی اهله الا ان » = ته مګر دا که معاف کړی دغه [وارثان دغه قاتل]
« یصدقوا فان کان » = پس که و [دامقتول] له [هسی] قومه چه دښمن وی
« من قوم عدو لکم وهو » = تاسی لره حالدا چه دامقتول مؤمن وی نو [شته پر قاتل
« مؤمن فتحریر رقبة » = تش] آزادول دغاړی [دمریی] مؤمن [بی له دیة]
« مؤمنة وان کان » = او که و، دغه[مقتول] له [هسی] قومه چه پمنځ ستاسی
« من قوم بینکم » = او پمنځ دهغه قوم کښ عهد وی نو [شته پرقاتل یو]
« وبینهم میثاق فدیة » = دیت سپارلی شوی اهل[وارثانو] دمقتول ته او بل
« مسلمة الی اهله » = آزادول دغاړی [دمریی] مؤمن دی - پس هر څوك
« وتحریر رقبة مؤمنة » = چه ونه مومی [مریی یامال چه پرې مریی و اخلی]
« فمن لم یجد فصیام » = نو [پرې] روژه نیول ددوو میاشتو دی پرله پسی
« شهرین متتابعین » = [بلا انقطاع دیاره دقبلولو د] توبی له [جانبه د]
« توبة من الله وکان الله » = الله ، اودی الله ښه عالم [په ټولو احوالو] لوی حکمة
« علیما حکیما . » = والا [چه هر کار پتدبیر اومصلحت سره کوی] .
« ومن یقتل مؤمنا » = اوهر څوك چه ووژنی کوم مؤمن پقصد سره [اودغه قتل
« متعمدا فجزاؤه » = دمسلمان رواهم وګڼی] نو جزاء دده جهنم دوزخ دی
« جهنم خالدا » = پدې حالکښ چه تل به وی دغه[حلالګڼونکی دقتل]
« فیها وغضب الله علیه » = پهغه [دوزخکښ]اوغضب قهر کړی دی الله پده باندی
« ولعنه واعد له » = اولعنت [پرې کړی] لر یکړیدی [الله] دغه [قاتل له
« عذابا عظیما . » = رحمة خپله او تیار کړی ئی دی ده ته عذاب ډیر لوی .

د(حضرت ابن عباس رض) په روایت کښ راغلی دی چه د « قصاص » اود « قتل » په نسبت دغه وروستنی حکم دی .
دنفس اودځان دحفاظت اوساتنی په نسبت د (مکی معظمی) دفتحی په موقعکښ اعلان صادر شوی و .
کله چه (حضرت محمد رسول الله ص) پخپله خطبه کښ (۱) دغسی ارشاد وفرمایه چه :
« دجاهلیت دزمانی ټولی وینی ما دخپلو دواړو قدمو لاندې کړی دی ! »
او وروسته لدینه ئی د « قتل الخطاء » اود « مشابه قتل العمد » دخون بها اودیت تحدید(۲) وفرمایه
اود « قتل الخطاء » دیت ئی داهل القریی لپاره څلور سوه دیناره مقرر کړل . (۳)

دغلا او دبدا منۍ سزا

دغلا اوداړه ماری (سرقه قطاع الطریق) په نسبت د هجرت تر شپږم کال پوری هیڅ کوم حد نه و مقرر . کله چه دهجرت په شپږم کالکښ د (عکل) او د (عرنیې) د قبیلې څه سړی (مدینی منوری) ته راغلل او مسلمانان شول ـ خو د (مدینی منوری) هوا او اوبه د دوی په طبیعت ښه ونه لګېدلې اود (حضرت نبوی ص) له حضوره دوی مامور شول څو له ښاره د باندې څړځای (چراګاه) ته لاړ شی ـ دوی یوه ورځ وار پیدا کړ اومسلمان اوښبانه ئی په سختو سختو عذابو او ربړو سره پشهادة ورسول اود هغوی اوښان ئی له خپلو ځانو سره بوتلل ـ څه وقت چه دغه غله اوداړه ماران ونیول شول نو د (حضرت نبوی ص) له حضوره پردوی باندې هم انتقاما همغسی تعذیب اجراء اوقصاصا ووژل شول . . . . نو پدغه تقریب دغه آیت نازل شو . (٤)

« انما جزاء الذین » = بیشکه همدا خبره ده چه جزاء دهغو کسانو چه جنګ
« یحاربون الله ورسوله » = کوی دوی له [دوستانو د] الله سره او له رسول ددغه
« ویسعون فی الارض » = [الله] سره اوسعی کوی منډی وهی دوی پځمکه ملك کښ
« فسادا ان یقتلوا » = لپاره دفساد [اوبدامنۍ غورځولو] چه ودې وژلی شی
« او یصلبوا او تقطع » = یادې په دار کړل شی یادې پریکړل شی لاسونه ددوی
« ایدیهم و ارجلهم » = او پښی د دوی سره مخالفی [یعنی ښی لاس او کینه
« من خلاف او ینفوا » = پښه یاعکس ددی] یادې وشړل شی له ځمکی [پحبس
« من الارض ؛ ذلك لهم » = سره یاله هغه ځایه بل لرې ځای ته] دغه [مذکوره جزاء]
« خزی فی الدنیا ولهم » = دغو [غلو] ته رسوائی ده په دنیا کښ او شته دغو
« فی الاخرة عذاب عظیم » = [غلو] ته په آخر تکښ عذاب ډېر لوی

(۱) : ددغه خطبی تفصیلات ځمونږ ددغه « سیرة النبی » داول جلد په (۳٦۱) مخکښ وګوری . !
(۲) : په (ابوداؤد) کښ کتاب الدیات باب فی دیة الخطاء وشبه العمد وګوری . !
(۳) : په (ابوداؤد) کښ باب دیات الاعضاء وګوری . !
(٤) : دغه د « المائدة » دسورة د(٥) رکوع آیت تفسیر ځمونږ دپښتو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ په ٦٦٨ و ٦٦٩ مخو کښ وګوری . !

له نفس او ځان څخه وروسته د مال درجه ده . له اسلام څخه پخوا پـه عربـو کښې د غلا لپاره د غله د لاس پرې کولو حکم جریان درلود چه اسلام هـم همغه سزا باقی پرېښوده (۱)

« والسارق والسارقة » = اوغل [نارینه] اوغله [ښځه] نو پرې کړئ تاسی

« فاقطعوا ایدیهما » = لاسونه ددوې [دواړو] دپاره دجزاء دهغه عمل چه کړی

« جزاء بما کسبا » = دی دواړو لپاره د تنبیه له الله څخه، او الله ډېر قوی

« نکالا من الله » = غالب دی [پانفاذ داحکامو] ښـه حکمت والادی

« والله عزیز حکیم. » = [چه هر کار پتدبیر او مصلحت سره کوی]

د هجرت په اتم کال کښې د (مکی معظمی) د فتحی پموقعه کښې کله چه د (مخزوم) د قبیلی یوې ښځی غلا وکوله څرنګه چه هغه د قریشو له یوې شریفی کورنۍ څخه وه نو په مسلمانانو کښې لدغې پېښې څخه سخته پریشانی او اضطراب پیدا شو (حضرت اسامه بن زید رض) د (حضرت محمد رسول الله ص) پحضور کښې د هغې ښځی زیاد شفاعت او سپارښت وکړ ـ مګر له سره مؤثر واقع نشو او بالعکس (حضرت نبوی ص) سخت متأثر شو او پدغه تقریب ئې کرد مسلمانان راټول کړل او یوه خطبه ئې ایراد کړه چه په هغې کښې دغسی هدایت او ارشاد هم موجود و چه :

« له تاسو څخه رومبی د پخوانیو اقوامو د هلاك او د تباهۍ سبب همدغه »

« خبره وه چه پر کشرانو ـ وړو ـ کوچنیانو اوښکته طبقاتو باندې به حدود »

« او تعزیرات او احکام چاری کېدل لیکن که به مشران غټان لویان او »

« پورتنی طبقاتو د کوم جرم مرتکب کېدل نو هغوی به له سزا څخه معافېدل ـ »

« خدایږو که دمحمد اور فاطمه هم غلا وکوی نو ځه به ئې لاس پری کړم ! »

د (حضرت نبوی ص) ددغه تقریر اثر داسی څرګند شو چه خلقو بې له څـه وړاندې او وروسته کولو څخه سمدلاسه د همغه حکم تعمیل وکړ (۲)

---

(۱) : ددغه د « المائدة » د سورة د (٦) رکوع آیت تفسیر لحمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان» کابلی چاپ په ٦٧٢ و٦٧٣ مخو کښې وګورئ ! چه هلته دقطع الید د مخالفینو منکرینو لپاره ښه معقول او مدلول دلائل ښکلی شوی دی .

(۲) : په (صحیح بخاری شریف) کښې باب غزوة الفتح وګورئ !

دلته دیادونې پړول لیکلی کېږی چه نن مع الاسف بیاهمهغه منظره را وړاندې ده ؟ بلکه ځینی حدود اوتعزیرات ددی لپاره چه تارکین ئې « مدنی » وبللی شی له خرمی له منځه ایستلی شوی دی . او همداسی په ځینو عباداتو او واجباتو کښې هم همداسی بې اعتنائی لیدله کېږی .

لاحول ولاقوة الا بالله العلی العظیم .

د زناء - دشرابو د بهتان حدود

په عربو کښې د زناء لپاره کومه سزا نه وه مقرره - په جهودانو کښې د « توريت » له مخې د زانی سزا رجم يعنی سنګساری او پـه ګټو سره ويشتل مقررو . ليکن د اخلاقی کمزوری لامله دغه قانون نشوای جاری کيدای .

هغو جهودانو چه د (مدينی منوری) په اطرافو او اکنافو کښې اوسېدل د « رجم » په ځای د « زناء » سزا ئی داسی مقرره کړی وه چه د زانی مخ دې تور کړ شی - او په کوڅو او بازارو کښې دې تشهير کړ شی . (حضرت محمد رسول الله ص) څه وقت چه (مدينی منوری) ته تشريف يووړ نـو جهودانو د يوه مجرم دعوی د (حضرت نبوی ص) دربار ته ور وړاندې کړه - غالباً دغه دهجرت د دريم کال واقعه ده - (حضرت نبوی ص) له جهودانو څخه دغسی پوښتنه وفرمايله چه :

« ستاسی په شريعت کښې ددغه جرم سزا څه دی ؟ » جهودانو خپل رسم او رواج (حضرت نبوی ص) ته ووايه . دلته (حضرت ص) توريت وغوښت او پر دوی باندې ئی ولوست - جهودانو د (رجم) پر فقرې باندې خپلی ګوتی کېښودلی او هغه ئی پټه کړه - بالاخر يو بل جهودی چه په اسلام سره مشرف شوی و ، هغه فقره ئی راښکاره کړه او (رسول اکرم صلی الله تعالی عليه وسلم) ته ئی ولوستله . (حضرت نبوی ص) وفرمايل چه :

« (يا الها ! داستا هغه حکم دی چه د خلقو له لاسه متروك مړ اولا يعمل پاتې و - محمد هغه ستا »
« ړومبنی بنده دی چه ستا دغه حکم بيا له سره ژوندی کوی او معمول ئی ګرځوی (١) »

لکه چه د(حضرت نبوی ص) له حضوره حکم صادر شو چه هغه زانی دې رجم کړ شی ! لکه چه هغه سنګسار کړ شو ، د هجرة په پنځم کالکښې د « النور » سورة نازل شو ، چه پهغه کښې د « زناء » سزا سل دری مقرری کړی شوی - (حضرت عمر الفاروق رض) داسی وائی چه د « رجم » سزا هم په قرآن مجيد کښې باقی پاتې ده ، خو د هغه تلاوت منسوخ شوی دی . (٢)

له احاديثو څخه دغه ثابتېږی چه د (غير محصن) زانی لپاره چه واده ئی نه وی کړی سل دری اود (محصن) زانی لپاره چه واده ئی کړی وی د « رجم » حکم مقرردی (٣)

د هجرت په اوم کالکښې (٤) يو مسلمان د « زناء » مرتکب شو - سره له دې چه هېڅوك پرې نه و خبر ، ليکن د آخرت د سزا له خوفه او د الله تعالی د عذاب له وېری هغه دنيوی عذاب تـه

---

(١) : د ابوداؤد باب فی رجم اليهوديين وګوری !
(٢) : په (صحيح بخاری شريف) کښې باب رجم المحصن وګوری !
(٣) : دغه حکم د احاديثو په ټولو کتابو کښې مذکور دی .
(٤) : د هجرت د اوم کال د تحديد تفصيل هېڅېری پدغه تفصيل سره نه دی مذکور . دغه کال پدغه قياس سره دحديثو شارحينو غوره کړی دی چه پدغه کالکښې (حضرت ابوهريرة رض) پـه (مدينی منوری) کښې موجود و حالدا چه پهمدغه کال کښې يعنی د (خيبر) د فتحی يزمانه کښې هغه (مدينی منوری) ته راغلی و .

ترجیح ور کړه - او په عامه مجمع کښې راغی او د (حضرت محمد رسول الله ص) په حضور کښې ئی عرض وکړچه :
« ای رسول الله ! زه گنهگاریم له گناه څخه مې پاك کړی ! »
کله چه د (حضرت نبوی ص) له حضوره دهغه لازمه تحقیقات وشول ، نو د « رجم » حکم ئی پرې صادر کړ .

د شرابو حرمت د هجرت په څلورم کال کښې پعمل راغی د اسلام په ابتدائی دورې کښې د شراب چښونکی لپاره کومه مخصوصه سزا نه وه معینه شوې . شراب چښو نکیو ته به تر څلویښتو درو پورې سزا ورکوله کیده . د (حضرت عمر الفاروق رض) پزمانه کښې د « شرب الخمر » سزا تر اتیا درو پورې ورسیده . (۱)

دقذف یعنی پرسپین لمنو ښځو باندی تهمت لګولو سزا د هجرت په پنځم کال کښې نازله شوه . (۲)

« والذین یرمون » = اوهغه کسان چه ولی محصنې ښځی [یا محصن سړی
« المحصنت ثم لم یاتوا » = چه نسبت دزناء ورته وکړی] بیارانه ولی [پمخ د قاضی
« بار بعة شهداء » = حاکم کښې] څلور تنه شاهدان پس ووهیء تاسو
« فاجلدوهم ثمانین » = [ایجا کمانو] دغه [قاذفان که اصیلان وی] اتیا دری
« جلدة ولاتقبلوا لهم » = اومه قبلویء! تاسی لدوینه شاهدی هیڅ کله [تر وقته
« شهادة ابداً واولئك » = د مرگه پورې] او دا [قاذفان] همدوی دی
« هم الفاسقون . » = فاسقان وتونکی اه فرمان

په دنیا کښې درې شیان له هر څیز څخه اهم او د اعتناء وړدی : ځان - مال - پت دهغو حدودو دتعزیراتو ذکر چه پاس تیر شو پهغو کښې د همدغو دروشیانو د تحفظ رعایت شوی دی نو پهمدغې بناء ددغو قوانینو له نزول او اجراء او تنفیذ څخه وروسته (حضرت محمد رسول الله ص) د هجرت په لسم کال کښې د (حجة الوداع) په تقریب د (اشهر الحرم) او د (ارض الحرم) او د (احرام) پحالتکښې دغسی ارشاد وفرمایه چه :

« ای مسلمانانو ! دهر مسلمان ځان - مال او آبرو همداسی د حرمت »
« وړاو قابل دی لکه چه پدغی محترمی میاشت کښې پدغې محترمی »
« احاطی کښې پهدغې مقدسې ورځی کښې دحرمت وړ او قابل دی . »

---

(۱) : (ابوداؤد) باب اذاتتبع فی الخمر .
(۲) : د افك واقعه پهمدغه کالکښې واقعه شوه .
او د « النور » د سورة د اوله رکوع پهمدغه متعلق نازل شو - نو بناء پردی د قذف د سزا تاریخ د هجرت په پنځم کال کښې وتاکله شو . ددغی موضوع تفصیلات په پښتو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ په (۲۱۷۷) و (۲۱۷۸) مخو کښې وګوری !

حلال او حرام

په عربو کښې له هیڅ قسم مأکول او مشروب څخه هیڅ راز اجتناب او پرهیز نه و او نه د حلالو او د حرامو په مفهوم او مدلول باندې څوك پوهېدل - د جاهلیت اعرابو به تر مردارو او حشرات الارض پورې بد او ناولی شیان هم خوړل - یوائې همهغه حیوانات به ئې ژوندی او سر خوشی پرېښودل چه د بتانو په نامه به وو. او د هغوی بوږل او حلالول به ئې گناه گڼله. په ځینو حیواناتو کښې به ئې دغسی نذرونه هم پر ځان اخېستل چه لدغه څخه یوائې نارینه خوړی شی - او ښځې ئې نشی خوړلی - که د کوم حیوان له گېډې څخه به کوم مردار بچی پیدا کېده نو له هغه څخه به ئې هم نر او هم ښځې خوړلای شوای . او که ژوندی ځیږېده نو له هغه څخه به یوائې نر خوړلای شوای. داسی نور د بت پرستانو ځینی رسوم هم وو. د « الانعام » په سورة کښې چه په (مکی معظمی) کښې نازل شوی دی ددغو رسومو تفصیلات مذکور دی . (۱)

اگر که د اسلام اکثره احکام په (مدینې منورې) کښې نازل شوی دی - لیکن د مأکولاتو د حلت او د حرمت احکام په (مکی معظمی) کښې نازل شوی دی ، لکه چه د « الانعام » په سورة کښې د مشرکینو ددغو رسومو له تردید څخه وروسته داسی ارشاد فرمائی (۲)

« قل لااجد فی ما » = ووایه [ایمحمده! دویته] چه نه مومم ځه په هغه شی کښې
« اوحی الی محرما » = چه وحی کړی شوی ده ماته [تر اوسه پورې یوشی]
« علی طاعم یطعمه » = حرام کړی شوی پر کوم خوړونکی چه خوری هغه
« الاان یکون میتة » = مگر که وی داشی مرداره یا وینی بهید و نکی
« او دما مسفوحاً » = یا غوښه د خنزیر نو بېشکه دغه [خنزیر] پلیت
« او لحم خنزیر » = دی یا ناجائزه ذبیحه دی چه غبز کړی شوی وی
« فانه رجس او فسقا » = بی دنامه دالله په [وقت دذبحې د] هغې کښې بیا که
« اهل لغیر الله » = څوك [له لوږی] بی اختیاره شی پدغه حالکښې چه نه وی
« به فمن اضطر » = ظالم [پربل کوم مضطر باندی] او نه وی تېریدونکی

---

(۱) : دغه تفصیلات د « الانعام » په شپاړسمه رکوع کښې او ځمونږ د پښتو کابلی چاپ « فوائد موضح الفرقان » له ۸۶۳ مخ څخه نیولی تر ۸۷۲ مخونو پورې ښکلی شوی دی .

(۲) : دغه د « الانعام » د سورة د (۱۸) رکوع آیت تفسیر ځمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ په ۸۷۲ او ۸۷۳ مخونو کښې وگوری .

« غیر باغ ولا » = [له قدره دضرورته پخوراك کښې] نو بیشکه رب ستا
« عادفان ربك » = لوی بښونکی دی [د خطیاتو] نهایت مهربان دی
« غفور رحیم . » = [پانعام داجراوثواب سره]

مشرکانو ته لدغی خبری څخه زیاد حیرت او تعجب پیدا شوی و چه اسلام هر هغه حیوان ته چه پخپله مری اوسائی خیژی حرام وائی - او هغه حیوان چه دوی ئی پخپلو لاسو سره وژنی او حلالوی ئی حلال او روابولی حالدا چه ددغو دواړو پمنځکښې څه فرق نشته [بلکه د هغه ډوډینی نوع وژونکی پخپله الله تعالی دی] نو پدغه مناسبت دغه حکم نازل شو (۱)

« فکلوا مماذکر اسم » = پس خورئ تاسی له هغې مذبوحی څخه چه یاد کړی شوی وی
« الله علیه ان کنتم » = نوم دالله پرهغی باندې که یئ تاسی په آیاتو [دقدرت]
« بایاته مؤمنین وما » = ددغه [الله] ایمان یقین لرونکی! اوڅه مانع ده تاسی ته چه
« لکم الاتاکلوا مما » = نه خورئ تاسی له هغی مذبوحی څخه چه یاد کړی شوی دی
« ذکر اسم الله علیه » = نوم دالله پرهغی [پوقت دذبحی کښې] حالداچه په تحقیق
« وقد فصل لکم ماحرم » = واضح کړی دی [الله] تاسی ته هغه چه حرام کړی یی دی
« علیکم الا ما » = پرتاسی (اودغه مذبوحه باسم الله له هغو څخه نه ده)
« اضطررتم الیه وان » = مگر هغه (محرمات) چه اړ کړی شوئ تاسی (خوراك)
« کثیراً لیضلون » = دهغوته (نوهغه حلال دی) او بیشکه ډیر له خلقو خامخا
« باهوآئهم » = گمراه کوی (خلق په تحلیل اوتحریم) په آرزو گانو
« بغیر علم ان ربك » = خپلو بی له پوهی (او تحقیقه او برهانه له جهله)
« هو اعلم » = بیشکه رب ستا همدی دی ښه عالم دانا
« بالمعتدین » = په تیریدونکیو (له شرعیه ؤ حدود هم)

وروسته لدیته بیا په همدغی (مکی معظمی) کښې دغه حکم نازل شو چه بهغه کښې بیا د همغو پخوانیو احکامو دمطالبو تائید اوتاکیدشوی دی . (۲)

---

(۱) : دغه د « الانعام » د (۱٤) رکوع آیت تفسیر دیښتو « فوائد موضح الفرقان » په (۸٤۹) او (۸۵۰) مخو کښې و گوری ؛

(۲) : دغه د « النحل » دسورة (۱۵) رکوع آیت تفسیر لحمونتې دیښتو « فوائدموضح الفرقان » په ۱٦۹۷ و ۱٦۹۸ مخو کښې وگوری ؛

« فکلوا مما » = نوخوریء تاسی له هغو (طعامو) څخه چه در کړی دی
« رزقکم الله حلالا » = تاسی ته الله حلال طیب پاکیزه او شکر و باسیء
« طیبا واشکروا » = (قدر و پیژنیء) د نعمت احسان دالله که یيء تاسی چه
« نعمت الله ان کنتم » = خاص همدغه (الله) ته عبادت
« ایاه تعبدون » = کوییء (او فرمان ئی منیء ؟)

بیا په (مدینی منوری) کښې (١) همدغه احکام اعلام شول اودریم ځلی بیا دهمغو څلورو واړو محرماتو حرمت بیان کړ شو . [لکه چه پاس مو ولیکل دجاهلیت دزمانی] په عربو کښې دحلالو او حرامو تمییز ډیر لږ [بلکه له سره نه و] برسېره پروحشت او جهالت دهغه سبب او علت عمومی افلاس او غربت هم و . . . . . داسلام په برکت له یوه جانبه مسلمانانو ته دحلت اود حرمت احکام وروښوول شول اوله بله جانبه دهغوی مالی حالت په ښه معیار او وضعیت باندې ودرید .

دجاهلیت دزمانی اعرابو به همهغه حیوان ته مردار ویل چه در نخوری لاماه مردار بده نو که کوم حیوان د نورو عللو او عواملو له سببه مړ کیده هغه به دوی حرام نه ګاڼه . دهجرت له څلورم یا پنځم کال څخه وروسته دمرداري اومیتې تفصیلات دغسی صادر شول . (٢)

« حرمت علیکم » = حرام کړی شوی دی پر تاسی (خوراك د) مردار (حیوان)
« المیتة والدم و لحم » = او د (بهیدونکی) وینی اودغوښې دخنزیر او دهرهغه
« الخنزیر و ما اهل » = (حلال کړی شوی حیوان) چه غږ کړی شوی وی
« لغیر الله به » = بیله (نامه د) الله (ذبل شی) پهغه باندې (پوقت دذبحی
« والمنخنقة والموقوذة » = کښې) او دخفه کړی شوی او دکوټك (اودنورو)
« و المتردیة » = وهلی شویو او دغور ځیدلی (له پاسه ژوری ته)
« و النطیحة و ما » = اودځیری شوی پهوهلو دښکر او دهغه چه (تری)
« اکل السبع الا » = خوړلی وی درند ګانو مګر (روادی) هغه چه حلال
« ماذکیتم و ماذبح » = (ئی) کړیء تاسی (او پکښې روح وی اوحرام دی) هغه
« علی النصب و ان » = چه حلال کړی شوی وی (پنامه د کوم ممنوع ځای باشی) اودا
« تستقسموا بالازلام » = چه تقسیم کړیء تاسی په غیشو دقمار سره دغه [تپر محرمات
« ذلکم فسق » = یاتقسیم یاتفاؤل په دې غیشو سره د] ګناه کار او فسق دی .

(١) : د « البقره » په (٢١) رکوع چه تفسیر ئی د پښتو « فوائد موضح الفرقان » په (١٣٩) و ١٤٠ و ٢٤١ و ٤ مخو کښې مرقوم دی

(٢) : دغه د « المائدة » د سورة د دریم آیت تفسیر او په زړه پوری تفصیلات ځمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » په (٦٢٥ و ٦٢٦ و ٦٢٧) مخونو کښې وګوری .

دهجرت په اووم کالکښ څه وقت چه د مسلمانانو په لاسو کښ د (خیبر) د فتوحاتو په ضمن کښ ځمکی او باغونه او جائدادونه راغلل ، نو پدغې موقعکښ په ساکښانو او حیواناتو کښ هم د حلت او حرمت تفریق وکړ شو . او دغسی اعلان وشو چه لدینه وروسته خر [ګیډی] - څیروونکی ، ځناور منګلی لرونکی مارغه حرام دی .

د هجرت په اتم کالکښ د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته (د طی) قبیله چه عیسوی وه هم مسلمانان شول- اود (شام) ځینی عیسائیان هم مسلمانان شول ، څرنګه چه دغو خلقو به ښکاری سپی درلودل- اوددغو سپیو پوسیله به ئی ښکار کاوه اووروسته له مسلمانېدلو دویته دغه خبره ورڅرګنده شوه چه په اسلام کښ دمردار حیوان خوراك حرام دی نودوی دخپل احوال عرض د(حضرت محمد رسول الله ص) بحضور کښ وکړ - پدغه تقریب دغه حکم صادر شو (۱) :

« یسئلو نک » = پوښتنه کوی دوی له تانه [ایمحمده!] چه کوم شی :

« ما ذا احل » = حلالکړیشویدی دویته ؟ ووایه حلالکړیشویدی

« لهم قل احل » = تاسی ته طیبات پاك شیان او [حلالکړیشویدی تاسو ته

« لکم الطیبات » = ښکار د] هغه چه ښوونه کړی وی ورته تاسی له

« وما علمتم » = [تولو اقسامو] ښکار کوونکیو [حیواناتو یامرغانو]

« من الجوارح » = څخه چه ښوونه کوونکی اوسیء تاسی [په ښکار ځغلولو

« مکلبین » = د دوی] چه ورته ښوونه و کړیء تاسی له هغه نه چه

« تعلمو نهن مما » = ښوولی دی تاسی ته الله پس خوریء تاسی له هغه ښکاره

« علمکم الله » = چه نیولی وی تاسی ته [له انعامو اوطیورونه] اویادویء

« فکلوامما امسکن » = تاسی نوم دالله پهغه [ښکاری حیوان کله چه

« علیکم و اذکروا » = ښکار ته ئی لیږیء یایا دویء تاسی نوم دالله پحلالولو

« اسم الله علیه » = دهغه ښکار کښ که ژوندی مومینده کړ] اووویریږیء

« واتقوا الله ان الله » = تاسی له الله بیشکه چه الله ډیر چابك دی حساب [دده

« سریع الحساب . » = چه ډیر ژر دګردو مخلوقاتو حساب خلاصوی .]

---

(۱) : دغه د « المائدة » د سورة د څلورم آیت تفسیر ځمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » په (۶۳۰) و (۶۳۱) مخو کښ او د نورو تفاسیرو او د احادیثو په کتابو کښ دهمدغه آیت په شان النزول کښ وګوری . !

د شرابو حرمت

د اسلام مخالفین دغسی ادعا کوی چه :

« د اسلام د اشاعت اوی سبب همدغه وو چه دمسلمانی‌ړاکثر احکام د عربو په »

« زړه پوری او د عربو له احساساتو او له جذباتو سره بیخی موافق و- نو بناء »

« پردی عربو دهغو په‌منلو کښ تلیواروکړ - اودایثار او دزیارهیڅ ضرورت »

« پکښې نه وپاتی - ځکه چه‌اسلام همهغه شیان ویل‌چه عربوهم‌همهغه غوښتل . »

ددغه بحث پوره تحقیقات وروسته لدینه راځی - دلته یواځی له تاریخی حیثیت څخه د شرابو د حرمت د واقعی ذکر کول مقصود دی .

په عربو کښ له شرابو څخه زیاد بل کوم شی مرغوب او محبوب نه و - ټول عرب او عربستان د شراب چښلو پمرض کښ سره اخته اومبتلا وو . د عربو د شاعری‌لویه موضوع همدغه شراب او شراب چښل‌و، اسلام د ځینو مصالحو په لحاظ خپل کرد احکام ورو ورو او په تدریجی ډول سره نازل کړ ل - چه پدغه ضمن کښ شراب چښل هم متدرجا حرام شول .

په ټول (عربستان) کښ مخصوصا په (مدینه) کښ د شراب چښلو عادت او رواج دومره ډیر عمومیت درلود . چه خورا لویو لویو شرفاؤ بـه په علانیه او ډانګ پیلی سره شراب چښل .

هو ! په عربو کښ داسی ښه سړی هم موجود وو، چه هغوی پخپله خوښې سره شراب چښل پرېښی و او شراب چښل ئی خلاف التقوی او ښه کار ئی نه ګانه .

خو څرنګه چه په ابتداء کښ اسلام د « شرابو » په نسبت لا څه فیصله نه‌وه صادره کړی ، نو خلقو به له (حضرت محمد رسول الله ص) څخه دغسی پوښتنی کولی چه :

« د شرابو په نسبت مونږ ته څه حکم او هدایت را کوی‌ه ؟ »

پدغه ضمن کښ (حضرت الناطق بالصدق والصواب عمربن الخطاب رضی‌الله تعالی عنه) دغسی وویل:

« اللهم بین لنافی » = ای الها ! د شرابو پـه نسبت مـو نږ ته

« الخمر بیا نا شافیا » = یـو شـافی‌بیان وفرمایه !

پدغه تقریب کښ دغه هدایت صادر شو (۱):

« یسئلونك عن الخمر » = پوښتنه کوی‌دوی له تاته [ایمحمده !له‌حکمه دچښلو]

« والمیسر قـل » = د شرابو او [له کولود] قمار نه ووایه [ایمحمده !

« فیهما اثم کبیر » = دوبته] په دی دواړو کښ ګناه لویه ده اونفعی دی

« و منافع للناس و » = لپـاره دخلقو او ګناه ددی دواړو ډیره لویه ده له

« اثمهما اکبر من نفعهما» = نفعې ګټی ددې دواړونه

(۱): دغه د «البقرة» دسورة د (۲۶) رکوع آیت تفسیر ځمو نږ دپښتو « فوائد موضح الفرقان» په (۱۹۸ و ۱۹۹) مخونو کښ وګوری . !

ددغه آيت له نزول څخه وروسته به هم خلقو شراب چښل ، يوځلی (حضرت علی رض) او (حضرت عبد الرحمان بن عوف رض) ديوه انصاری کره په ميلمستيا سره مدعو شول چه پدغې ميلمستيا کښې شراب هم موجود و ، دماز ديگر له عصريی اوډوډی څخه وروسته خلق دماښام په لمانځه با ندې ودرېدل ..... د لته امام [په لمانځه کښې د «الکافرون» سورة ولوست خوځرنگه چه بېسده او نېشه ونو] دنېشی پحا لتکښې ترڅې سخته غلطی وشوه او د يوه آية پځای ئی بل آيت ولوست [او د يوه مطلبی دافادی پځای بل مطلب تری مستفاد اوخبره ئی له صوابه خطاء ته واوښتله چه ترې دثواب پځای دعقاب وېره پيدا شوه] دلته بيا (حضرت الناطق بالصدق والصواب عمر بن الخطاب رض) همغسی دعاء وکوله (۱)، اومتعاقبا دغه حکم نازل شو (۲):

يا يها الذين امنوا » = ايهغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دی [يعنی

« لاتقربوا الصلوة » = ايمؤمنانو!] مه نژدی کيږیء تاسی لمانځه ته حالداچه

« وانتم سکاری حتی » = تاسې مست بېسده ياست [له نېشی څخه] ترهغه پورې

« تعلموا ما تقولون » = چه پوه شیء تاسی پرهرهغه څيز چه وايیء (ئی) تاسې

ددغه آيت له نزول څخه وروسته هر کله به چه دلمانځه وقت کېده نود (حضرت محمد رسول الله ص) له احکامو سره به سم دغسی منادی کېده چه :

«هېڅ يو مخمور او بېسده او نېشه سړی دی په لمانځه کښې شامل نشی!»(۳)

خو څرنگه چه دغه حکم عمومی نه و، نوځکه ماسواء له لمانځه څخه په نورو اوقاتو کښې خلقو بلاتکلف شراب چښل بيا (حضرت الناطق بالصدق والصواب عمربن الخطاب رض) همغسی دعا وکوله (۲)

پهمدغه زمانه کښې څه خلقو پدغه اندازه اومېچ شراب چښلی وو چه دسکر او بېسدی پحالتکښې د وهلو اوټکولو اويو پربل باندې دمنگلو لگولو وار هم رسيدلی و چه پدغه تقريب دغه احکام نازل شول(٤)

« يا يها الذين امنوا » = ايهغو کسانو چه ايمان ئی راوړی دی (يعنی

« انما الخمر والميسر » = ايمؤمنانو!) بېشکه همدا خبره ده چه شراب اوقمار او

« والانصاب والازلام » = بتان اوغيشی، (دفال دا څلور واړه ټول) پليت دی له

«رجس من عمل الشيطان» = کار دشيطان څخه دی نوځان وساتیء تاسی لدی څخه

---

(۱) : چه اوس د (۵۸۹) مخ په (۲۱) سطر کښې تېرشو :

(۲) : دغه د« النسا » د سورة د (۷) رکوع آيت تفسير ځمونږ دپښتو « فوائد موضح الفرقان » په (۵۰۹ و ۵۱۰) مخو کښې وگوری ۰ !

(۳) : دغه واقعه پوره د (ابوداؤد) په کتاب الاشربه کښې مذکوره ده

(٤) : دغه د«المائدة» دسورة د (۱۷) رکوع آيت تفسير چه دهجرة په دريم کالکښې نازل شويدی ځمونږ دپښتو «فوائد موضح الفرقان» کابلی چاپ په (۷۲۹) او (۷۳۰) او (۷۳۱) مخو کښې په زړه پورې ښکلی شويدی . په (ابوداؤد) هم ددغه آيت پطرف اشاره شوی ده .

« فاجتنبوه لعلکم » = لپاره ددی چه نجات ومومیء تاسی (پدیځان ساتلو سره)
« تفلحون، انما یرید » = بیشکه چه همدا خبره ده غواړی شیطان چه واچوی
« الشیطان ان یوقع » = پمنځ ستاسی کښ عداوة د ښمنۍ او بغض
« بینکم العداوة والبغضاء » = کینه په [چښلو] د شرابو کښ او
« فی الخمر والمیسر » = [کولو د] قمار کښ او واړوی
« ویصدکم عن ذکر الله » = تاسی له ذکره یاده دالله څخه اوله لمانځه څخه
« وعن الصلوة فهل » = نو آیا یيء تاسی منع کیدونکی [اوښتونکی
« انتم منتهون » = لدې بدو کارو ؟ بلکه ترې واوړیء !)

ددغو آیاتو له نزول څخه وروسته شراب قطعاً حرام شول. اوپهمدغه وقتکښ (حضرت محمد رسول الله ص) په ټولې (مدینې منورې) کښ اعلان وکړ - او جار ئی وغږاوه چه :

« سر له ننه شراب بیخی حرام او ممنوع دی . » لیکن سره له هغه د شرابو تجارت - بیع او شری [پلورل او پیرودل] جاری و - خو د هجرت په اتم کال کښ هغه هم حرام او ممنوع وګرځیدل - او (حضرت محمد رسول الله ص) دغسی امر صادر کړ چه :

« ټول خلق دې په (مسجد النبوی ص) کښ را ټول شی ! »

کله چه خلق را ټول شول نو (حضرت ص) دشرابو دتجارت دحرمت اعلان هم صادر کړ . (۱) وروسته لدینه د (مکی معظمی) د فتحی پموقعکښ (حضرت محمد رسول الله ص) علی رؤس الاشهاد او په ډانګ پیلی ددغو شیانو د تجارت ممانعت وفرمایه او حکم ئی صادر کړ چه د دغو شیانو چښل او چښول او ساتل بیخی ممنوع او ناروا دی .

« ان الله و رسوله » = الله تعالی او رسول الله حرام کړیدی خرڅول
« حرم بیع الخمر » = او اخیستل د شرابو او د مردارو او د خنزیر
« والمیتة والخنزیر » = [سوډر] او د بتانو چه څوك ئی ونه پیری
« والاصنام (۲) » = او نه ئی و پلوری .

---

(۱) : په (صحیح بخاری شریف) کښ د آیت الربوا تفسیر - او په (صحیح مسلم شریف) کښ باب تحریم بیع الخمر وګوری ! (حضرت بی بی عائشه صدیقه رضی الله تعالی عنها) فرمائی چه د سورة «البقرة» داواخرو له نزول څخه وروسته چه پکښ د سود او سوائی [ربوا] حکم دی دغه د شرابو د تجارت د حرمت اعلان صادر شویدی چه دغه آیتونه د هجرت په اتم کال کښ نازل شوی دی .

(۲) : په (صحیح بخاری شریف) او (صحیح مسلم شریف) کښ باب تحریم بیع الخمر والمیتة والاصنام وګوری !

غور وفرمائی ! چه د شرابو د حرمت اعلان په څرنګه یو عمومی ډول سره شوی دی ، خو سره له هغه هم دغه خبره لا په ښه صورت سره نه وه متعینه شوی چه دغه د کوم کال واقعه ده محدثین او ارباب الروایت پدغې موضوع کښې سره ډېر مختلف الاراء دی (۱) :

(علامه حافظ ابن حجر رح) په (فتح الباری) د (صحیح بخاری) د شرحی په کتاب التفسیر د سورة « المائدة » په تفسیر په باب « لیس علی الذین امنوا) کښې داسی لیکی :

« والذی یظهر » = او په ښکاره سره خو دغه څرګندیږی چه

« ان تحریمها کان » = د شرابو د حرمت حکم د (مکی معظمی) د فتحی

« عام الفتح سنة » = پموقعکښې د هجرت په اتم کالکښې صادر شوی دی.

« ثمان کما روی » = او د هغه دلیل دغه دی چه (امام احمد)

« احمد من طریق » = د (عبد الرحمان بن وعلة) په سند داسی

« عبدالرحمن بن » = روایت کوی چه ما د (حضرت عبدالله بن عباس رض)

« وعلة قال سألت » = څخه پوښتنه وکوله چه د شرابو په

« ابن عباس عن » = تجارة کښې څه وایئ؟ (ابن عباس رض)

« بیع الخمر فقال کان » = وویل چه د (حضرت محمد رسول الله ص)

« لرسول الله صلی الله » = یو آشنا چه د (ثقیف) یا د (دوس) له

« علیه وسلم صدیق من » = قبیلی څخه و ، د (مکی معظمی) د فتحی پموقعکښې

« ثقیف او دوس فلقیه » = د شرابو یو مشک [ژی] د تحفی پډول

« یوم الفتح براویة خمر » = ور وړاندی کړ (حضرت نبوی ص) خپل هغه

« یهدیها الیه فقال یا » = آشنا ته داسی وفرمایل چه : « آیا تا ته

« فلان اما علمت ان الله » = لا دغه خبره نه ده معلومه چه الله تعالی شراب

« حرمها - الحدیث » = حرام ګرځولی دی ؟ (الحدیث) .

---

(۱) د عمومو نږ د دغه « سیرة النبی » په اول جلد کښې د شرابو د حرمت دوه مختلف تواریخ پدوو مختلفو مقاماتو کښې لیکلی شوی دی په (۲۷۲) مخ کښې د ځینو خلقو په قول د هجرت په څلورم کالکښې او په (۴۰۴) مخ کښې د هجرت په اتم کال مذکور دی . ډومبنی خبره د عمومو ارباب السیرو قول دی . او دوهمه خبره د (علامه ابن حجر رح) تحقیق دی - لیکن د « سیرة النبی » د مصنفینو اصلی تحقیق دلته مذکور دی چه دوی پدغې موضوع کښې له عمومو محدثینو سره یو ځای دی لیکه چه دغه وضعیت وروسته لدینه څرګندیږی .

- ځمونږ په نزد د (علامه حافظ ابن حجر رح) خیال او استدلال صحیح نه دی . دغه روایت څخه یواځې همدغومره قدر ثابتیږی چه دغه د(حضرت نبوی ص) آشنا ته د (مکی معظمی) دفتحی پورې لا دشرابو دحرمت حکم نه و معلوم (۱) دغه کله ترې ثابتیږی چه تر دغه وقته پورې دشرابو د حرمت حکم لا نه و صادر شوی . دغسی خو ډیر داسی احکام شته چه دلرې ځایو هستیدونکیو ته ډیری ورځی وروسته په ځند اطلاع رسیږی .

---

(۱) د(مرحوم شبلی نعمانی رح) دغه قیاس بیخی صحیح او رښتیا ده . دغه قصه چه کوم اصحابی ته ئی نسبت کاوه شی هغه خو یا د (ثقیف) له قبیلی څخه دی یا د (دوس) له قبیلی کوم سړی دی ، د (ثقیف) قبیله دهجرة په اتم کالکښ مشرفه بالا سلام شوې ده . د (دوس) قبیله اګر که لا له پخوا څخه مسلمانه شوی وه لیکن د هغوی ځای له (مدینی منوری) څخه ډیر لرې و . علاوه پردی یوه بله نکته هم شته چه دهغی په لوری ځمونږ محدثان نه دی متوجه شوی چه ذکر ئی پاس په متن کښ تیر شو . یعنی اګر که دشرابو چښلو امتناع دهجرت پخلورم کال په (مدینی منوری) کښ پعمل را غلی ده . لیکن دشرابو تجارت نه و ممنوع شوی لکه چه دغه سړی هم دشرابو سودا ګرو . دشرابو تجارت دحرمت حکم دسود سوائی [ربوا] له حرمت سره یوه ځای په آخر کښ صادر شو . یعنی دهجرت په اتم کالکښ دشراب خرڅولو دممانعت حکم پهمغه وقتکښ وکړ شو . لیکن دهغه عمومی اعلان د(مکی معظمی) دفتحی پزمانه کښ وکړ شو لکه چه دغه خبره په صحیحه ؤ احادیثو کښ مصرحا مذکوره ده (په صحیح بخاری شریف) کښ د آیت الربوا تفسیر باب البیع المیتة والاصنام او په (صحیح مسلم شریف) کښ باب تحریم بیع الخمر وګوری . ! (علامه حافظ ابن حجر رح) چه ددی خبری قائل دی چه د شرابو دتجارت حرمت دهجرت په اتم کالکښ نازل شوی دی ، دی پخپله دخیل کتاب د اول جلد په ٤٦١ مخکښ د (قاضی عیاض رح) پجوابکښ داسی لیکی : « ممکن دی چه د شرابو دتجارة حرمت دشرابو دچښلو دتحریم څخه وروسته نازل شوی وی » په (صحیح مسلم) باب تحریم بیع الخمر کښ له (ابو سعید الخدری رض) څخه داسی روایت شوی دی چه دشرابو د چښلو تحریم او دهغه دتجارة تحریم دواړه یو ځای نازل شوی دی . لیکن له هغه څخه وروسته کوم روایات چه له (حضرت صدیقی بی بی عائشی رض) او له (جابر بن عبدالله رض) څخه شویدی له هغو څخه ثابتیږی چه په ډومبی روایت کښ له (ابو سعید الخدری رض) یا له هغه څخه د وروستنیو راویانو پدغه موضوع کښ لږ څه تسامح شوې ده . « وهذا هو الحق » علاوه پردی د (امام احمد) پر کوم حدیث باندې چه (ابن حجر رح) دشراب چښلو په تحریم کښ د (مکی معظمی) په فتحی کښ استدلال کړی دی ، هغه حدیث د (صحیح مسلم شریف) په باب تحریم بیع الخمر کښ هم مذکور دی لیکن پهغه کښ د (مکی معظمی) دفتحی تعیین نشته .

علاوه پردی له لحینو نورو روایاتو څخه هم دغه خبره ثابتیږی چه د (مکی معظمی) له فتحی څخه لا یخوا د شراب چښلو د حرمت حکم نازل شوی و . او دغه له سره امکان لری چه د شرابو په شان یو ناپاك څیز د هجرت تر اتم کال پوری حلال پاتی وی او فقط د (حضرت نبوی ص) له وفات څخه دوه کاله مخکښ حرام شی - په حقیقت مخکښ د شرابو د چښلو د حرمت حکم د هجرت په دریم یا اخلورم کال کښ صادر شوی دی . (١)

---

(١) : د دغی خبری د حقانیت لوی دلیل دغه دی چه وقت چه د شرابو د چښلو د حرمت حکم نازل شو نو لحینو خلقو د غسی وویل : « د لحمو نو د هغو مسلمانو وروڼو چه وروسته له شراب چښلو څخه د بیهوشی او سکر یا لتکښ د « احد » په غزا کښ وژلی شو بدی حال به څه وی ؟ » نو بدغه تقریب دغه آیت نازل شو چه تفسیر ئی لحمو نو د دیښو « فوائد موضح الفرقان » کابلی چاپ په ٧٣٢ و ٧٣٣ و ٧٣٤ مخو نو کښ مذکور دی .

لَيْسَ عَلَى الَّذِينَ آمَنُوا وَعَمِلُوا الصَّالِحَاتِ جُنَاحٌ فِيمَا طَعِمُوا

نشته پر هغو کسانو چه ایمان ئی راوړی وی او کړی ئی وی نیک اعمالونه هیڅ ګناه په هغه څیز کښ چه خوړلی دی دوی (څو اګر) متقی

لدغه پاس آیت څخه معلومیږی چه د شرابو د حرمت واقعه بیخی د « احد » له غزا سره متصله و . او د « احد » د غزا زمانه همدغه د هجرت دریم کال دی . په (صحیح بخاری شریف) کښ د (حضرت جابر رض) څخه د همدغه آیت په تفسیر کښ داسی مذکور دی :

« صبح اناس غداة احد الخمر » = د « احد » د غزا په کیڼ کښ لحینو خلقو شراب و چښل « فقتلوا من یومهم جمیعا » = او همدغه شراب چښونکی سړی یو همدغه ورځی کښ ګرد « شهداء و ذ الک » = سره په شهادت ورسیدل . او دغه د شرابو د چښلو له تحریم « قبل تحریمها » = څخه د یخوا نی زمانی خبره ده .

لدغه روایت سره د (حضرت انس رض) دغه روایت هم یو ځای کړی اچه نری وروسته واقع شوی دی .

« فقال بعض القوم قتل قوم » = کله چه د شرابو د حرمت آیت نازل شو نو لحینو خلقو د غسی « وهی فی بطنهم قال فانزل » = وویل چه لحینی خلق خو بدغسی حالتکښ وژلی شوی دی چه د « الله : « ولیس علی الذین » = هغوی په کیڼو کښ لا شراب موجود و . نو بدغه تقریب دغه « امنوا الایة » = آیت نازل شو [چه د همدغه مخ په (٢١) سطر کښ موجود لوست !]

دسود سوائی او دربوا حرمت

دسود خوراك هم له هغو بدو اخلاقو او خرابو چارو څخه و چه د اهل العربو په رګو اوریشو او غوښو او وینو ـ پلو کښ ئی سرایت کړی و نو ځکه دسود خوری دحرمت احکام هم پتدریج سره ورو ورو نازل شول (قریش) عموما تاجران او سوداګران وو ـ قریشی امیرانو بډایانو او د دولت او ثروت خاوندانو به غریبانو اکربانو اوبزګرانو خوارانو ته په زیاد سود سوائی اوګټو سره پورور کاوه ـ او ترهغه پوری چه مقروض به ددوی قرض نه اداء کاوه نو دداین پنګه او سرمایه به هره ورځ دهغه دسود په وسیله زیاد یده (١) پخپله د (حضرت محمد رسول الله ص) تره یخواله اسلامه لوی سوداګر و او دسودا وسوائی لوی دفتر او دیوان ئی درلوده (٢) څه وقت چه (حضرت محمد رسول الله ص) مدینی منوری ته تشریف بو ورنو هلته دجهودی تاجرانو دسوداو دسوائی مختلف رسوم اوعادات موجودو . د (حضرت نبوی ص) له حضوره له ګردو څخه یخوا دسرو زرو اودسپینو زرو په پور سره پلورل او پیرودل [بیع و شری] سود ودراوه شو ـ (٣) بیا ددو چندو اوددروچندو سود اخیستلو ممانعت صادر شو (٤)

« یا یها الذین » = ایهغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی

« امنوا لا تأکلوا » = [یعنی ایمؤمنانو!] مه خوری سر دپد یحالکښ

« الربوا اضعافا مضاعفة » = چه دو چنده پر دو چنده وی او و ویریږی تاسی

« واتقوا الله لعلکم » = له الله ښائی چه پمراد به ورسیږی

« تفلحون . » = [خلاص به شیء تاسی له قهره دالله]

وروسته لدینه د (حضرت نبوی ص) له حضوره د همجنسو اشیاؤ

په تزئید او تنقیص کښ د مبادلی ممانعت و فرمایه شو (+)

دهجرت په اوم کالکښ د(خیبر) دغزا پیوقعکښ کیله چه دمسلمانانو معاملات له جهودی سوداګرانو سره شروع شول ـ نو پدغه وقتکښ د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره دغسی اعلان صادر شو چه « دسرو زرو داشرفی بیع او شری [پلورل اوپیرودل] په تزئید او تنقیص سره هم سود دی (٥) »

دسود او سوائی د حرمت پمتعلق تفصیلی احکام دهجرت په اتم کالکښ صادر شول او د « آل عمران » له سورة څخه وروسته د « البقرة » په سورة کښ له ګردو څخه یخوا دغه آیت نازل شو (٦)

---

(١) : موطا (امام مالك رح) باب الربوا

(٢) : د (ابن جریر رح) په تفسیر کښ آیت الربوا وګوری !

(٣) : په (صحیح مسلم شریف) کښ باب الصرف وګوری !

(٤) : دغه د « آل عمران » دسورة د (١٣٠) آیت تفسیر ځمونږ دپښتو « فوائد موضح الفرقان » په (٣٩٧) او (٣٩٨) مخو کښ ښکلی شوی دی : (+) صحاح کتاب البیوع

(٥) : په (صحیح مسلم شریف) کښ « باب بیع القلادة فیها خرز » وګوری !

(٦) : دغه د « البقرة » دسورة د (٢٧٤) آیت تفسیر ځمونږ د پښتو « فوائد موضح الفرقان » په (٢٦٥) او (٢٦٧) او (٢٦٨) مخو کښ وګوری !

« الذین یأکلون » = هغه کسان چه خوری اخلی سود [له خلقو] نه یا څیزی
« الربوا لایقومون » = دوی [د قیامت پور لحکنې] مکر [یا څیزی دلته]
« الا کما یقوم الذی » = لکه چه یا څیزی هغه څوك چه خواس ئی لحواب کړی وی
« یتخبطه الشیطان » = شیطان [پزعم دعربو] له خپله اثر دا (حال ددوی) په سبب
« من المس ذلك » = ددی دی چه ویل دوی چه پشکه همدا خبر مده چه تجارة
« بانهم قالوا انما » = خو هم همداسی دی [پجواز کښې] لکه سود حلال چه
« البیع مثل الربوا » = حلالکړیدی الله تجارة او حرام کړی ئی دی سود همدا ئی
« واحل الله البیع » = پس هر څوك چه راشی ده ته پندله [نطرفه د] رب دده
« وحرم الربوا فمن » = پس منع شو [له سوده] پس دی ده ته هغه څیز چه
« جاءه موعظة من ربه » = پخوائی اخیستی دی. او معامله ئی الله ته [سپارلی نوی]
« فانتهی فله ماسلف » = ده او هر څوك چه بهرته و کړ خپله [سود نه] و
« وامره الی الله ومن » = حلال ئی و کړنه] نو دغه کسان صاحبان
« عاد فاولئك اصحب » = د اور [ددوزخ] دی چه دوی به په دی
« النار هم فیها خلدون » = اور کښې همیشه وی.

خلقو به دغسی اعتراضونه کول چه سود هم یو راز تجارة دی - کله چه تجارة روا دی نو سود څر نکه ناروا دراوه کیږی؟ ددغه سؤال جواب خود دغه کتاب په نورو مجلداتو کښې راځی - دلته نه شد یو الحی دسود دحرمت تاریخ او نیته څر کیندول مقصود دی. بهر حال یدغه آیت کښې هم د سود د قطعی حرمت فیصله ونه شوه - بالاخر لږ څه وروسته [اغلبا دهجرة په اتم کالکښې] دغه احکام د حضرة رب العلام له خوا اهل اسلام ته اعلام شول (۱)

« یا یها الذین امنوا » = ایهغو کسانو چه ایمان ئی راوړی دی.
« اتقوا الله وذروا » = [یعنی ایمؤمنانو!] ووپریږی له الله او پریږدی
« مابقی من الربوا » = تاسی هغه چه پاتی شوی دی له سوده که یی تاسی
« ان کنتم مؤمنین » = مؤمنان [یقین لرونکی به شریعة به رښتیا سره]
« فان لم تفعلو فأذنوا » = پس که ونه کړ تاسی [دا کار] نو
« بحرب من الله » = آګاه شی [ځان تیار کړی] تاسی

(۱): دغه د «البقرة» د (۲۷۹) آیت تفسیر لحو نیز د پښتو کابلی چاپ فوائد موضح الفرقان به ۲۶۹ و ۲۷۰ و ۲۷۱ مخو نو کښې و کوری!

« ورسوله وان » = پېجنګ له [طرفه د] الله او رسول ددغه [الله]
« تبتم فلکم » = او که توبه کاره شوې تاسی [له اخیستلو دسوده]
« رؤس اموالکم » = نوشته تاسو لره اصل داموالو ستاسی مه کوئ تاسی ظلم
« لا تظلمون ولا » = [چه سود به هم غواړئ] او نه دي ظلم کاوه شی پر تاسی
« تظلمون . وان » = [چه له رأس المال څخه موخه ستون کړی شی] او
« کان ذو عسرة » = که و [پور وړی] خاوند د ناداری نو پور تاسی دي
« فنظرة الی میسرة » = انتظار [پور وړی ته] تر وقته دفراخی [د پور وړی]
« وان تصدقوا » = پوری او داچه ښښنه وکړئ تاسی دي پور وړی ته
« خیر لکم » = خیر بهتر دی تاسی ته که چیری یې تاسی
« ان کنتم تعلمون . » = چه پوهیږئ [پهغه خیر باندی]
« واتقوا یوما ترجعون » = او ووېرېږئ تاسی [له عذابه د] هغی ورځی چه بېرته
« فیه الی الله ثم توفی » = بیول کیږئ تاسی پهغی کښ طرف د الله ته بیابه پوره
« کل نفس بما » = ورکړه شی هر نفس ته جزاء دهغه عمل چه [ده له خیره
« کسبت وهم » = یا شره] کړی وی او پدوی به ظلم و نکړ شی
« لا یظلمون . » = [په تقلیل د ثواب یا د تزئید د عقاب سره]

کله چه دغه احکام نازل شول نو د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره ټول مسلمانان په مسجد کښ را ټول کړ شول - او دغه احکام ئی ورواورول (١) ،

د هجرت په نهم کال کښ له (اهل النجران) سره کومه معاهده چه مسلمانانو وتړله پهغی کښ یوه دغه فقره هم وه چه : « دوی دي سود سوائی وانخلی ! (٢) »

د هجرت په لسم کال د ذیحجة الحرام [حوت] په میاشت کښ د حجة الوداع په تقریب کښ د (حضرت محمد رسول الله ص) له حضوره دغه کرد سود او سوائی چه ددغه مذکور آیت له نزوله څخه یخوا پرخلقو باندی اوښته - لغوه کړه شوه - او ټول ئی « کالعدم » او « لاشی » ودرول .

(حضرت ابن عباس رض) فرمائی چه :

« د سود د حرمت حکم د اسلامی احکامو د سلسلی وروستنی کړی او حلقه ده . (٣) »

---

(١) : په (صحیح بخاری شریف) او (صحیح مسلم شریف) کښ باب تحریم بیع الخمر وګوری !

(٢) : په (ابوداؤد) کښ باب اخذ الجزیه وګوری !

(٣) : په (صحیح بخاری شریف) کښ د « البقرة » د سورة ده « واتقوا یوما » د آیت تفسیر وګوری !

د وروستنی کال حجة الوداع

د هجرة په لسم کال د ذیحجة الحرام [حوت] پمیاشتکښ

چه د عیسوی د ۶۳۳ کال د فروری سره سم و

د نبوة د فرض اختتام

بِسْمِ اللهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

[شروع] په نامه د الله چه خورا مهربان د بر رحم والا دی.

« اذا جاء نصر الله » = کله چه راشی مدد کاری دالله [له تاسره ای محمده

« و الفتح » = او غلبه ور کول تالره پر دښمنانو او [چه راشی] فتحه

« ورأیت الناس » = [د مکې او د نورو بلادو مؤمنانو لره] او وینی ته

« یدخلون فی » = خلق چه ننه وځی په دین دالله کښ [چه اسلام دی] فوج

« دین الله » = فوج پس تسبیح وایه پیوست له حمد درب ستاسره [یا

« افواجا فسبح » = لمونځ کوه په امر دالله سره [او مغفرة و غواړه له دغه

« بحمد ربك » = [الله نه لپاره دامت خپل یا د پاره د ماتېدو دنفس

« و استغفره انه » = او قصور دعمل او تل او سه په استغفار] بېشکه چه دغه [الله]

« کان توابا » = دی ښه توبه قبلوونکی [دمستغفراتو] . (۱)

اګر که ظاهراً داسی خیال کاوه شی چه دالله تعالی د نصرت او دفتحی پمقابل کښ ښائی چه د شکر ایستلو هدایت ور کړی شوی وای - تسبیح او استغفار له فتحی سره څه مناسبت لری ؟ پر همدغی بناء په یوه صحبت کښ (حضرت عمر رض) له (اصحاب الکرامو رض) څخه ددغه آیت د معنی پوښتنه وکوله - چه هغوی ئی مختلفی معانی ورو ښوولی . (حضرت عمر رض) په غې موضوع کښ د (حضرت عبد الله بن عباس رض) په اوری وکتل ، څرنګه چه هغه پدغه وقتکښ صغیر السن و ، پجواب ور کولو کښ ئی لنږ څه متردد شو - او څه وړاندی او وروسته ئی کول . نو (حضرت عمر رض) دهغه تقلید او پیښی وکړی دلته (حضرت عبدالله بن عباس رض) وویل چه :

---

(۱) : ددغه سورة « النصر » تفسیر لمونځ د پښتو کابلی چاپ « فوائد موضح الفرقان » په (۳۵۰۸ و ۳۵۰۹) مخو کښ وګوری !

« پدغه آیت کښې د (حضرت محمد رسول الله ص) د وفات د قرب »
« اعلان دی (۱) ځکه چه استغفار د موت لپاره مخصوص دی. »

د دغه سورة له نزول څخه وروسته (حضرت نبوی ص) ته معلومه شوه چه د رحلت زمانه رانژدی شوی ده (۲) لذا دغه خبره ضروری شوه څو د تولی دنیا پمخکښ د شریعت او اخلاقو کرد اساسی اصول د عمومی مجمع پمخکښ اعلان کړ شی.

(حضرت محمد رسول الله ص) له هجرت څخه وروسته د هجرت پر نهم کال پوری حج نه وکړی (۳) ځکه چه تر یوه مدت پوری خو قریشو ممانعت کاوه - د (حدیبیی) له صلحی څخه وروسته څه وقت چه هغه موانع نسبتاً له منځه لرې شول نو په زړه پوری مواقع (حضرت نبوی ص) ته نه میسر بدل او د اسلام احکام او د مسلمانانو مصالح د دغی خبری متقضی و څو (حضرت محمد رسول الله ص) دغه د حج فریضه له کردو فرائضو څخه وروسته اداء کړی.

(حضرت محمد رسول الله ص) د هجرت په لسم کال د ذیقعدة الحرام پمیاشتکښ دغسی اعلان وفرمایه چه سنږ کال (حضرت نبوی ص) د بیت الله الحرام د حج پمقصد (مکی معظمی) ته تشریف ور وړی. دغه خبر پدیر سرعت او تلیوار سره پټول (عربستان) کښ نشر او خپور شو او د (حضرت نبوی ص) د معیت شرافت ټولو عربو ته ور په برخه شو.

---

(۱) : په (صحیح بخاری شریف) کښ د « النصر » د سورة تفسیر و کوری.

(۲) : « واحدی رح » په (اسباب النزول) کښ داسی لیکی چه د « النصر » سورة د (حضرت محمد رسول الله ص) له وفات څخه دوه کاله مخکښ نازل شوی دی. لیکن (ابن القیم رح) په (زاد المعاد) کښ لیکلی دی چه د « النصر » د سورة د « هجرت په لسم کال کښ بعینه د « تشریق » په ایامو کښ نازل شوی دی. دغه دوهم روایت اصلا د (بیهقی) دی. ابن حجر رح) او (زرقانی رح) تصریح کړی ده چه د هغه سند ضعیف دی. نو بناء پر دی د (واحدی رح) روایت صحیح دی. » (سیوطی رح) هم په (اسباب النزول) کښ د مصنف (عبد الرزاق رح) پحواله همداسی نقل کوی چه دغه سورة د (مکی معظمی) له فتحی څخه وروسته سمد لاسه نازل شوی دی. د امامانو د تصریحاتو او محدثینو له اشاراتو څخه بر سیره پخپله د « النصر » د سورة د بیان له طرز څخه هم همدغه خبره را ښکاری چه د (مکی معظمی) له فتحی سره متصله نازل شوی دی. یعنی له (حجة الوداع) څخه څه لنږ دوه کاله دمخه د هجرت په اتم کال پهغو روایاتو کښ چه د « النصر » د سورة د نزول وقت د (حضرت نبوی ص) له وفات څخه څو ورځی وړاندی ویلی شوی دی هغه د روایت او د درایت له دواړو حیثیتو څخه ضعیف دی.

(۳) : د (ابن ماجه رح) په سنن په باب حجة النبی ص کښ راغلی دی چه (حضرت نبوی ص) له هجرت څخه پخوا دوه ځلی حج فرمائلی و. دغه خبره په ځینو احادیثو کښ داسی راغلی ده چه (حضرت ص) فقط یو حج فرمائلی دی [تر مذی باب کم حج النبی ص - ابو داؤد وقت الاحرام] له هغو څخه مقصود همدغه له هجرت څخه وروسته حج دی.

١٦٨٤ـ نظر وفتح ته جمه ولی دی .

١٦٨٥ـ نعمت پس له زواله معلومیږی .

١٦٨٦ـ نعمت ئې وهغو کسانو ته ورکی، چه پرښو خوړو ئې توزن لوښی نسکور کی.

١٦٨٧ـ نغری د دښمنه ډك ښه دی ، نه له دوسته خالی .

١٦٨٨ـ نکر ځی چه تر اختر تیر سی نو ئې پر دیواله وتپه .

١٦٨٩ـ نن پر ما ، سبا پرتا .

١٦٩٠ـ ننګ د ګورستا نه پاڅېدلی دی .

١٦٩١ـ نو ، بیعقل سړی ښه نیو لای سی .

١٦٩٢ـ نوك له اوری څخه نه بیلیږی .

١٦٩٣ـ نو کراو آس دې د دښمن پر کور درېږه ،

١٦٩٤ـ نوم دې لوړ ، کور دی ډګر .

١٦٩٥ـ نوم دنامه نه پرېکیږی .

١٦٩٦ـ نوم دې فتح خان ایښی دی ، تر کور دې سپی پتاخت تیریږی .

١٦٩٧ـ نه اروې ، نه ګورې ، سرپټ بدلی بولی .

١٦٩٨ـ نه به کاڼی پوست سی ، نه به غلیم دوست .

١٦٩٩ـ نه به در ته و وایم چه پر مخ دې ګله دی ؟

١٧٠٠ـ نه به تل راسره اوښان وی ، نه به تل داناصرخان وی .

١٧٠١ـ نه تا کړی . نه ما کړی . پر څه باندی پخلا .

١٧٠٢ـ نه تا څه راته کښېښو ده ، نه ما څه یکښ پرېښوه .

١٧٠٣ـ نه جغ کوم نه سپاره ، خدای بې راکی پر تیاره .

١٧٠٤ـ نه خان دی نه مان دی ، زما داوړوزیان دی .

١٧٠٥ـ نی خر وهلی ، اونه لښته ما ته .

١٧٠٦ـ نه خر مړ کېدی ، نه سپی ځنی تی .

١٧٠٧ـ نه دتینګی دویشتودی ، نه دسستی دنیو .

١٧٠٨ـ نه دمړو دژړادی . نه دژوندو ددلاسا .

١٧٠٩ـ نه دی غیلی پیایم ، نه دی ګاړی څټم .

١٧١٠ـ نه دبې ما لګې خوړو مزه سته ، نه ده پردی زویه ګله سته .

١٧١١ـ نه دی پاتی خورم ، نه دې سرې چلوم .

١٧١٢ـ نه ئې پلاروو خیرات کړی ، نه ئې مور لری ویشلی .

١٧١٣ـ نه دی وی هغه غوړی ، چه وې نه خوری سړی .

١٧١٤ـ نه دلې سوم ، نه هورې ، نر مینځ سوم خاوری ایرې .

١٧١٥ـ نه سیخ سوی . نه کباب .

١٧١٦ـ نه شرم نه حیا ، لعنت پر بې حیا .

١٧١٧ـ نه . . . کوی ، نه دلاروزی .

١٧١٨ـ نه کرم . نه ریبم ، توری څټی اړوم .

١٧١٩ـ نه کور ورك ، نه دود ورك .

١٧٢٠ـ نه ملا شوې نه امی سوی ، د پلار مینه دی ور که کړه چرسی سوی .

۱۷۲۱ـ نه‌می وخوړه نه‌په موړ سوم، سلابلا په تور سوم.

۱۷۲۲ـ نه‌یوفال، نه‌سل علاجه.

۱۷۲۳ـ نیت‌سم نیسه. اول‌ئې پر دښمن نیسه.

۱۷۲۴ـ نیك‌عمل به‌دی باچاکی بدعمل به دی رسواکی.

۱۷۲۵ـ نیستی په اشخار نه دیریږی.

و

۱۷۲۶ـ وا ده اسانه دی، جل و جهاز ئې گران دی.

۱۷۲۷ـ واده یم. خبره نه یم چه په چایم.

۱۷۲۸ـ واده دنه ستنی کریاب دی.

۱۷۲۹ـ وا ده داجاغ کوه خورولنده بل‌ته ور کوه.

۱۷۳۰ـ وارچه زماراغی. دچټی پلارراغی.

۱۷۳۱ـ واړه تشی‌شلومبې شاربی خبرنه شوه له مطلبه.

۱۷۳۲ـ واښکی پرنری ځای شلیږی.

۱۷۳۳ـ واښه دسمی خوری. هوادغره‌لری.

۱۷۳۴ـ وای ملك تور وخوړ کـه دوړو؟ وای دوړو!

۱۷۳۵ـ وجنگ ته یوه لویشت د مخه کېده، دسلو کالو لارده.

۱۷۳۶ـ وچ اوره پر دیوال نه نښلی.

۱۷۳۷ـ وخت چه‌دبری سی، هر گیدړ زمری سی.

۱۷۳۸ـ وخوره گلبخور ـ چه دی وسی میراث خور.

۱۷۳۹ـ وخوره استالب چه‌حاصل دی سی مطلب.

۱۷۴۰ـ ورجی غوښی تر ماړه نسه‌وی ـ ارمان چه یو کوکیرئی سړی نه وهلای.

۱۷۴۱ـ ورغستلی له مینځه وتلی دی.

۱۷۴۲ـ ورك کړی تا سنگی، څراغ لگیږی اورله رامکه راوړی.

۱۷۴۳ـ ورورو ژلی ښه دی که گومل پری ایښی ښه‌دی؟ گومل پری ایښی ښه دی. نه ورور وژلی.

۱۷۴۴ـ ورور ئې گوره، خور ئې غواړه.

۱۷۴۵ـ ور ورئې کسه ـ خورئې نسه.

۱۷۴۶ـ ور وردی وی، پرلاهور دی وی.

۱۴۴۷ـ ورور دی وی، دمور دی وی.

۱۷۴۸ـ وروری به کړو حساب ترمینځ.

۱۷۴۹ـ ور ورچه ننگیالی سی، دخور پرسر ټکری سی.

۱۷۵۰ـ ور ورئې مه‌وهه په توره، خورئې ناسته‌ده حضوره.

۱۷۵۱ـ ور ورچه سپورسی، دخپل کورسی.

۱۷۵۲ـ ورېښم که زاړه سی، دخره کته لانه سی.

۱۷۵۳ - ورېندا ری! خواره په دی غواړم ، نه دوروردمرگه .

۱۷۵٤- وزه ننوزه ، دجنگی لالا وا ده دی .

۱۷۵۵- وزه ننوزه ، سوړسک خوره لیمه دی وزه .

۱۷۵٦- وژاړه ، چه وخاندې ؟

۱۷۵۷- وزی په خوب سترخان وینی .

۱۷۵۸- وزی دډوډۍ تپها را روی .

۱۷۵۹- وزی ته دپړانگ پوست سنگکی ډوډۍ معلومیږی ،

۱۷٦۰- وستړی ته پچه هم پېچ آمد دی

۱۷٦۱- وسله هغه ده چه په لاس درغله .

۱۷٦۲- وسله که بار ده ، په سخته ورځ په کارده .

۱۷٦۳- وعاقل ته اشارت دی ، د بیعقل می نفرت دی .

۱۷٦٤- وگټه فیل وخوره .

۱۷٦۵- وگوره سړی ، ترلاندی واچوه کالی .

۱۷٦٦- ولاړی او به ژرژړیږی

۱۷٦۷- ومانه خندانه را ځی ؛ ستا دپاره هه هه هه .

۱۷٦۸- ونه چه زړه سی ، دهری بلاپرشپه سی .

۱۷٦۹- وهوښیار ته نیمه کوه ، وبیعقل ته بشپړه .

۱۷۷۰- ویل خره خره چیری ځی ؛ ویل مالگی له ځم .

۱۷۷۱- ویل خره خره د کمه ځی ؟ ویل دمالگی راځم .

۱۷۷۲- ویل دی ښه ، کول دی بد! .

۱۷۷۳- ویل سته ، عمل نسته ! .

۱۷۷٤- ویل لکی ښه دی که پتی ؟- ویل پتی .

۱۷۷۵- ویل ترلاس به دی ونیم پر گرده ، دنیا به دی وگرزوم ، ویل ته خو به هم راسره ئې

۱۷۷٦- وینی په وینو نه مینځلی کیږی .

ه

۱۷۷۸- هډو عمر ئې مه حسابه حال ته ئې گوره .

۱۷۷۹- هر چا ته خپل وطن کشمیر دی .

۱۷۸۰- هر چا ته خپل مزی مرغلین ښکاری .

۱۷۸۱- هر چیری چه ښه هلته شپه .

۱۷۸۲- هر چیری اوربل کټوی باندی .

۱۷۸۳- هر مرغه خپله ئې ځاله ، خبر نه دی یو دبل دحاله .

۱۷۸٤- هر څوك له ځانه خوښ په تیره بیا بنگښ .

۱۷۸۵ هر څو چه هوښیار ئی نادان لاپوښته .

۱۷۸٦- هر څه چه حمل واخلی راوړی د ځان په څیر ، نیکی چه حمل واخلی یا بدی راوړی یا هیر .

۱۷۸۷- هر څه چه درته وایم ، ته خپله غړك شار بې .

١٧٨٨ - هر څه مې دبل خوښ دی، عقل مې خپل خوښ دی.

١٧٨٩ - هر لوړ ځوړ لري.

١٧٩٠ - هسې مه کوه انسانه، چه زوی گران کې لور ارزانه.

١٧٩١ - هغه ناوی چه په ځان ښاسته - نه وی څوك ئې څه کوی ښا یست دمور و پلار.

١٧٩٢ - هغه آش، هغه کاسه!

١٧٩٣ - هغه درك، هغه خرك.

١٧٩٤ - هغه ساعت، هغه مصلحت.

١٧٩٥ - هغه سړی نه دی چه له ځانه خبر نه دی.

١٧٩٦ - هغه وختی ولاړی چه دی او کاوه په ولاړی.

١٧٩٧ - هله به زاریږم چه لکاره وزگاریږم.

١٧٩٨ - هم اوړه پینی، هم اور پوکی.

١٧٩٩ - هم بوره، هم بد نامه.

١٨٠٠ - هم در څخه مرم، هم در پسی مرم.

١٨٠١ - هم سفردی هم جعفردی، هم غرمه ده هم تود لمردی.

١٨٠٢ - هم غل، هم غمور.

١٨٠٣ - هم دسین داغاړه پیایی، هم هغه غاړه.

١٨٠٤ - هم لری، هم ناولی، هم ناوخته راستولی.

١٨٠٥ - هم ئې کری، هم ئې ریبی.

١٨٠٦ - هم ئې سکنی، هم ئې رغوی.

١٨٠٧ - هندوان پیسې گټی، ځوانان قصې گټی.

١٨٠٨ - .... څه وهلی، څه سرتور کړی.

١٨٠٩ - ... بی گوړی نه وی.

١٨١٠ - .... گوړی په خوب وینی،

١٨١١ - ....زوړ سو مسلمان نه سو.

١٨١٢ - ..... ستړی خدای ناراضه.

١٨١٣ - .... چه بیکار سی خپلی ... تلی.

١٨١٤ - .... وهه، گوړه ئی خوره.

١٨١٥ - .... می پك نه دی لید لی.

١٨١٦ - هنه هنه قطبه هنه میدان خالی سواوس باندی پنه.

١٨١٧ - هو تکه در بی زه کم.

١٨١٨ - هوده د شر منبکی نه لری لاس وښا مار نه اچوی.

١٨١٩ - هو ښیار نه غوزاریږی چه غوزار سی غبرگ غاښو نه ئی وزی.

١٨٢٠ - هو ښیار ته اشاره ده لیونی و ته ډنده ده.

١٨٢١ - هو ښیار مرغه په دوو لمو بندیږی.

١٨٢٢ - هیڅوك نه وائی چه زما د غړ کی خوند بد دی.

ی

١٨٢٣ـ یا اناوهی ، یاغر کی خیری .

١٨٢٤ ـ یابه کلاله‌ونیسی ، یابه‌مالداروتیسی.

١٨٢٥ـ یاحوري دی ، یاتوری دی .

١٨٢٦ـ یادمی‌نه که مروی به‌می خدای .

١٨٢٧ـ یادبه‌دی زه کم ، مروی به‌دی خدای.

١٨٢٨ـ یاد مه وای پوهولای ، یادی مربی کری مه وای .

١٨٢٩ـ یادي‌مه‌وای پیدا کری ، یادی مه‌وای پوهوای .

١٨٣٠ـ یاد چاودی پښی ژاری ، یاله کندي ښځی .

١٨٣١ـ یا دخدای قدرت دی ، یا دمیرو غیرت دی .

١٨٣٢ـ یادمورتی دی ، یاد چلم نی دی .

١٨٣٣ـ یارتر کوشه‌نیر که ، رنگ‌ئی‌هیر که.

١٨٣٤ـ یارله یاره بلار بیبزی .

١٨٣٥ـ یاری چه‌په شوتالوسوه ، خوونه‌شوه.

١٨٣٦ـ یارانه دوبه جاله .

١٨٣٧ـ یار باقی ، صحبت باقی .

١٨٣٨ـ یارچه . . . . سی رنگ دی ورك .

١٨٣٩ـ یارتر ماپوری رنگ ژیری ښه دی ، نه‌زه تریاره .

١٨٤٠ـ یارشپی‌لره‌دی ، دوست تنگسی لره‌دی.

١٨٤١ـ یارمی‌دی ....وی ، زمادی‌استرحت‌وی.

١٨٤٢ـ یاردپاره ده ځوری دغوایی غوښی .

١٨٤٣ـ یالویو کوروته‌ورځه ، یالویو غروته.

١٨٤٤ـ یامر یامور ، یاجگ پرغوایی‌سپور.

١٨٤٥ـ یانه کوی ، یا د خره کوی .

١٨٤٦ـ یانیك پلو یانیك جلو

١٨٤٧ـ یا وور پوښته ، یا زور .

١٨٤٨ـ یتیم چه‌سر سبیل‌سی ، سل او یا گزه ئی . . . . سی .

١٨٤٩ـ یتیم ته‌یونس مستی هم پسرلی‌دی .

١٨٥٠ـ یتیم په ژرا شوخ دی .

١٨٥١ـ برحمك الله هم ځای لری .

١٨٥٢ـ یو بهلول ، یو کچکول .

١٨٥٣ـ یو به مرنه سی ، بل به مورنه سی .

١٨٥٤ـ یو په او ښکو ژاری ، بل په وینو ورسره ژاری .

١٨٥٥ـ یو په سلو ، سل په هیڅ .

١٨٥٦ـ یو په‌ست ښه‌ایسی ، بل په ننگ .

١٨٥٧ـ یو پټی شپشتی ئی وخوری ، وایی دالا مبزه ده .

١٨٥٨ـ یو تنها به دی سفروی ، یابه غم یابه اختروی .

١٨٥٩ـ یو نو کی غیرت ترسلو مروښه .

١٨٦٠ـ یو تك دی دارونسته ، پرځان دی غومباره نوم ایښی دی .

١٨٦١- یوخوردی وړه، منګو په زکات کی خویی وبوله .

١٨٦٢- یو څه زه لنډیم ، یوڅه می د بنۍ ګوډی او زد دی .

١٨٦٣- یودلوږی مړ کېدی ، بل ئی وسرته ډوډی لټوله .

١٨٦٤- یوساعت ستر ګی کښته واچوه ګرده ورځ به موړ ګرزې .

١٨٦٥- یولاس دی خدای هغه بل ته نه اړوی .

١٨٦٦- یو مټ دی او ړه نسته سل دی تنو رو نه دی .

١٨٦٧- یو مټ او ړه په کور کی نه لری تنور ئې پربام جوړه کړی دی .

١٨٦٨- یو نس دوه منته ؟

١٨٦٩- یونې سل اسانۍ .

١٨٧٠- یووایی مریی دی یم، بل دی فکرو کی چه په څومی اخیستی دی ؟

١٨٧١- یووایی مریی دی یم، بل ئی نو پر بازار نه خرڅوی .

١٨٧٢- یوه ورځ دبلی مورده .

١٨٧٣- یوه خور خرڅوله. بل په پورغوښته.

١٨٧٤- یوه شپه دمور دمېړه سره هم تیریږی.

١٨٧٥- یوه ویل کورمی ترتاجار؟ هغه بل واښکي ورته وغوړاوه .

١٨٧٦- یوه خطا دوه خطا . جمله خطا .

١٨٧٧- یوه ژرنده څټله . ابل ئی ... څټله.

١٨٧٨- یوه پر تناره خوری. یوه پر زنګانه خوری داخواره لاڅه خوری .

١٨٧٩- یوه چاړه چه دوې کی . داچاره به په پرې کی .

١٨٨٠- یوتنګه دوږی په ستر ګو کی دآسمان دائره معلو میږی .

١٨٨١- یو کاسه سرسر. یودغوایی سر. یود اور کو کړی زما دا دالاشمه ولاړه .

١٨٨٢- یوه کوه . یوه اروه .

١٨٨٣- یوه منه واچوه . تربلی بیاخدای.

١٨٨٤- یوئی کوت . ابل دخیره ووت .

١٨٨٥- یوئی وګټی، سل ئی وڅټی .

١٨٨٦- یوې بلا وبلی بلا ته ویل : اوخ .

د پښتو چاپ شوی کتابونه

(۱) پښتانه شعراء لومړی ټوک، لیکونکی عبدالحی حبیبی او ملګری .
(۲) پښتانه شعراء دوهم ټوک لیکونکی صدیق الله رښتین اوملګری .
(۳) د پښتو سیند . لیکونکی محمد ګل مومند
(٤) دژبې لیاره « « «
(٥) په پټه د پټوپلټنې « کشککی برهان الدین
(٦) پټه مینه « « «
(۷) لس زره لغتونه « محمداعظم ایازی اوملګری
(۸) سپېڅلی پښتو « لعل محمد کاکړ اوحبیبی
(۹) قواعد پښتو « محمداعظم ایازی
(۱۰) پښتوژبه لومړی ټوک « مولوی صالح محمد
(۱۱) « دوهم « « « « «
(۱۲) دپښتو کلی لومړی « « امین الله زمریالی، خادم
(۱۳) « « دوهم « « « «
(۱٤) « « دریم « دتالیف خانګه
(۱٥) « « څلورم « عبدالرؤف بینوا «
(۱٦) « « پنځم « ګل پاچا الفت
(۱۷) د پښتو کلی شپږم « صدیق الله رشتین
(۱۸) دکوچنیانو اخلاقی پالنه مترجم قیام الدین خادم
(۱۹) نیکبختی لیکونکی ارسلان سلیمی
(۲۰) دپښتو لیک ښو ونکی « محمد ګل نوری
(۲۱) دپښتو ښوونکی دوه جلد « محمدعثمان پښتون
(۲۲) خو د آموز پښتو ـ « دقندهارادبی مجلس
(۲۳) پښتو متلونه لیکونکی زمریالی، محمدقدیر تره کی
(۲٤) ملی هندارهدوم توکه « محمد ګل نوری
(۲٥) دخوشحال خان کلیات مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۲٦) د عبدالقادرخان دیوان « « «
(۲۷) پښتو از نقطه نظر فقه اللغة لیکونکی یعقوب حسن
(۲۸) په لحان باور مترجم ارسلان سلیمی
(۲۹) دپښتو اصلاحات او محاوری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳۰) لوی احمدشاه بابا مصحح او ناشر عبدالحی حبیبی
(۳۱) ۱ ج سیرة النبی د کشککی برهان الدین ترجمه
(۳۲) پښتو ۱ ج « فوائد موضح الفرقان » «
(۳۳) پښتو ۲ ج « فوائد موضح الفرقان » «
(۳٤) پښتو ۳ ج « فوائد موضح الفرقان » «
(۳٥) ملی سندری لیکونکی محمد ګل نوری
(۳٦) نوی ژوندون « قیام الدین خادم
(۳۷) پښتنې مېرمنې « عبدالرؤف بینوا
(۳۸) پټه خزانه دعبدالحی حبیبی ترجمه او تعلیق او خپرونه
(۳۹) بله ډېره لیکونکی ګل پاچا الفت
(٤۰) لغوی خپرنه « « « «
(٤۱) د پسرلی نغمه « « «
(٤۲) ملی پسرلی « عبدالحی حبیبی
(٤۳) د مېنې مینه د رادیو دنشریاتو له خوا
(٤٤) دوه سره مین ورونه محمد رفیق قانع
(٤٥) دپښتو کلی لومړی لارښوونکی لیکونکی صدیق الله رښتین
(٤٦) دغنمو وږی (منظره) عبدالرؤف بینوا
(٤۷) د پښتو ادبیاتو تاریخ تر اسلام دمخه اول ټوک عبدالحی حبیبی
(٤۸) پښتو سندری ـ تولوونکی «الفت»
(٤۹) دپښتو دادب تاریخ ـ مؤلف «رښتین»
(٥۰) د پیر محمد کاکړ دیوان ـ مدون او مقابله کوونکی ، بینوا
(٥۱) د میرویس نیکه تاریخ عبدالرؤف «بینوا»
(٥۲) د دار مستتر پښتو خپرنی پښتو کوونکی عبدالحی «حبیبی» او «بینوا»
(٥۳) د ژوندانه لاری « ښاغلی «سیفی» ترجمه
(٥٤) خان جهان لودی « « «
(٥٥) ادبی فنون ـ عبدالرؤف بینوا «
(٥٦) پښتو اشتقاقونه صدیق الله « رشتین »
(٥۷) دپوهانو افکار لیکونکی عبدالقدوس پرهیز
(٥۸) لنډه کې پښتو مؤلف محمد ګل مومند
(٥۹) عالی افکار مؤلف ګل پاچا الفت
(٦۰) روهی ګلونه ښاغلی قیام الدین «خادم»

APR 1 - 1940

کتابخانه عمومی مطبعی کشی چاپ شود